د افغاني سرې میاشتې ټولنه
جمعیت هلال احمر افغانی

# سره میاشت

د افغاني سرې میاشتې دوه میاشتنۍ خپرونه

٦٦م خپرنیز کال، اووم پړاو، ۸۸ یمه ګڼه



له غرونو او درو ور آخوا د اړمنو د لټون هڅه...



# رضاکاران د بشري خدمتونو په موخه پر سختو لارو شپې سبا کوي!



بسم الله الرحمن الرحیم

عن ابی امامة رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال:

(اتقوا النار ولو بشق تمرة)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:

له اور څخه ځان وژغورئ که څه هم د کجورې په یوه ټوټه وي. (حدیث شریف)


## د امتیاز څښتن:

د افغاني سرې میاشتې ټولنه

**خپرندویه اداره:**

د اطلاعاتو او خپرونو ریاست

مسؤل مدیر: محمد موسی اواب

ګرافیک ډیزاین: هجرت الله میوند



**د اړیکي شمیره:**

۰۷۲۸۹۰۰۶۷۴

**پست بکس:**

۳۰٦٦

**پته:**

افغانستان، کابل، پینځمه ناحیه، افشارسیلو،
د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرکزي دفتر

www.arcs.af ir@arcs.af

@arcsafghanistan



۱٤٤٥ سپوږمیز کال

(جمادی الاول، جمادی الثانی)


## لیکلړ


د افغاني سرې میاشتې، سرپرست عمومي رئیس د ترکیې هېواد .......... ۱
چین او ویتنام هېوادونو ته د افغاني سرې میاشتې ........................ ۲
په دري ولایتونو کې د ولایتي مجامعو پرانیست غونډې ................... ۳
په کندهار ولایت کې د راستنېدونکو کډوالو د پنډغالو .................. ۴
د سوري زړه پر ناروغۍ د اخته ماشومانو د درملنې په هکله ناسته ......... ۵
همدیگر پذیری ........................................................... ۶
ویره څنګه وژلی شو؟ .................................................... ۸
مصؤنیت ................................................................ ۹
ژورخپګان او نبنې نښانې.................................................. ۱۲
کرامت انسانی ........................................................... ۱۴
انساني ارزښتونه.......................................................... ۱۶
سره میاشت آلمان ته کوم ناروغان لیږي؟ ................................ ۱۷
خدمات بشر دوستانه در تاریخ اسلام .................................... ۱۹
د زړه عدم کفایه ......................................................... ۲۱
سیلی که هر سال مرگ می آفرید ......................................... ۲۴
ځان بساینه ............................................................... ۲۵
حمایت رواني............................................................. ۲۶
سوزېدل.................................................................. ۲۸
یخنۍ کې د زکام د مخنیوي لپاره کومې نسخې ............................ ۳۰
داستان زندگی کریم ..................................................... ۳۱
پردې کټ ................................................................ ۳۲
تولیدات گلخانه ای، راه رسیدن به خود کفایی.............................. ۳۵
قلم ....................................................................... ۳۶
چگونه میتوانیم عضویت هلال احمر افغانی.................................. ۳۸

# ماشومان زمونږ د بڼ ګلان دي

زمونږ هېواد له ډېرې مودې را هیسې د جګړو په اور کې سوزېدلی او وروسته پاتې هېواد دی. پخوا به ماشومان په خپلو کورونو کې د خپل عمر په اوږدو کې په ناروغیو اخته پاتې کېدل؛ تر هغه چې په مایوسۍ به یې له فاني دنیا څخه سترګې پټې کړې. مور، پلار او د کورنۍ نور غړي به یې په ویر اخته پرېښودل او د وخت ډاکټرانو به ویل، چې ماشوم په نه علاج کېدونکي رنځ اخته دی. اوس چې د طبي تکنالوجۍ له پرمختګ سره په ډاګه شوې او د وخت ډاکټران وايي، چې د جینتیکي او محیطي عواملو له کبله د ماشوم زړه له ولادت څخه د مخه د مور په ګېډه کې سوری وي، نو ځکه یې د زړه ولادي سوری بولي، چې له امله یې ماشوم په ډول ډول دردونو اخته کېږي او کړېږي، تر هغه چې درملنه او یا جراحي عملیات یې وشي.

یاد رنځ وروسته له درملنو او معایناتو تشخیص کېدلای شي او بیا یې علاج، چې یا اوږد مهالې درملنه او یا جراحي عملیات دي د ډېر لوړ لګښت په بدل کې تر سره کېږي، چې ډېری افغانان یې د ورکولو وس نلري، نو د مجبوریت له مخې خپل ماشوم ته په رنځ سترګو ګوري او هغه ترې مري.

له دې کبله افغاني سره میاشت، چې بشرپالنې ته ژمنه ټولنه ده او له بې وزلو ناروغانو سره مرسته یې لومړنۍ دنده ده، یاد ناروغان وروسته له هغه چې رنځ یې د متخصصیو له لوري د طبي معایناتو په سرته رسولو سره تثبیت او تشخیص شوی وي د وړیا درملنې او یا جراحي عملیاتو لپاره د هېواد د ننه روغتونونو ته معرفي کوي او ټول لګښت یې د افغاني سرې میاشتې له لوري تر سره کېږي.

اوس مهال، چې د سوري زړه ناروغي ډېره پراخه شوې او په افغانستان کې پرته له افغاني سرې میاشتې بل داسې خیریه بنسټ نشته، چې د یادې ناروغۍ وړیا درملنه وکړي او له بلې خوا یې ډېری هېوادوال د لګښت توان نلري، نو افغاني سرې میاشتې ته د مراجعینو کچه ډېره لوړه شوې. هره ورځ په لسګونو ناروغ ماشومان مراجعه کوي. دا په داسې حال کې ده، چې یاد ریاست نوموړي ناروغان پرته له کوم قومي، ژبني او سیمه ییز توپیر څخه د رنځور د اړتیا او لړ لیک له مخې په میاشت کې لسګونه ناروغان د جراحي عملیاتو په موخه روغتونونو ته معرفي کوي، لدې کبله د یاد لړ لیک لړۍ ډېره اوږده شوې او په زرګونو ماشومان د جراحي عملیات په انتظار ناست دي.

افغاني سره میاشت د هر واړه او زاړه ناروغ ژوند او روغتیا خپله ستره هیله او ارمان بولي، نو ځکه یې دا ستونزه درک کړې او دې برخې ته یې ستره بودجه ځانګړې کړې او په خپل ټول اخلاص او ځواک سره کوښښ کوي، چې یو مجهز روغتون فعال کړي؛ ترڅو وکولای شي، چې د هر ناروغ ماشوم درملنه ژر تر ژره تر سره شي او هغوی ته چې شپه او ورځ یې مرګ تهدیدوي نوی ژوند وبښي.

دا چې د افغاني سرې میاشتې بودجه حکومتي نده او ټول لګښتونه د خپلو جایدادونو له عوایدو، له خیر پالو شتمنو هېوادوالو او مماثلو خیرپالو بنسټونو څخه لاسته راوړي او سره میاشت له خلکو څخه د خلکو لپاره ده، یو ځل بیا په ټولو خیر پالو بنسټونو او ملي او بین المللي سوداګرو باندې غږ کوو، چې ماشومان زمونږ د بڼ ګلان دي او رنځور ماشومان مو هغه ګلان دي چې مړاوې شوي او د رژېدو خطره لري، راشئ چې لاسونه سره ورکړو او د هر ماشوم لپاره د زړه پټۍ شو، ځکه چې د هر ماشوم په زړه کې په زرهاو هیلې دي، هغوی به ژوند کوي او ټول عمر به تاسې ته دعاوې کوي، عبادتونه به کوي او ستاسې خیر ښېګڼې به یادوي او د هغوی ژوند به تاسې ته جاري صدقه پاتې وي. هره غټه او وړه صدقه مو د همدې لپاره ولګوئ، ځکه چې الله تعالی له تاسې سره د تاسې د زړه او اخلاص پر بنسټ معامله کوي.

اداره




# د افغاني سرې میاشتې د سرپرست عمومي رئیس
# د ترکیې هېواد له شارژدافیر سره تعارفي ناسته

د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص په خپل کاري دفتر کې په کابل کې د ترکیې هېواد له شارژدافیر جنک اونال سره تعارفي ناسته وکړه. ناسته کې د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس ښاغلي اونال ته افغانستان ته د راتګ هرکلی ووایه او د ترکیې او افغانستان د ولسونو ترمنځ یې اړیکې د اسلامي اُخوت پر بنسټ تاریخي وبللې. نوموړي وویل "په تېرو ۲ کلونو کې ترکیې له هر چا زیات د افغانانو لاسنیوی کړی او افغاني سرې میاشتې ته یې په سختو حالتونو کې د همکارۍ لاس ورکړی ".

ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص وویل "مونږ د ترکیې د سرې میاشتې منندوی یو، چې له مونږ سره د بشري خدماتو په برخه کې صمیمانه اړیکې لري او فعالیتونه په ګډه مخې ته وړو ". نوموړي د ترکیې هېواد شارژدافیر ته ډاډ ورکړ، چې افغاني سره میاشت به په بشري خدماتو کې د ترکیې مرستندویه وي او ترڅنګ به یې ولاړه وي. نوموړي په بشري مرستو کې افغانستان ته د ترکیې د پاملرنې ځانګړې مننه وکړه او څرګنده یې کړه، چې د ترکیې همکاري افغاني سرې میاشتې ته ډېر ارزښت لري.

ناسته کې افغانستان کې د ترکیې شارژدافیر ښاغلي جنک اونال افغانستان ته پر خپل راتګ خوښي وښوده او ژمنه یې وکړه، چې افغاني سرې میاشتې سره په همغږۍ به په افغانستان کې د ترکیې بشري مرستې تنظیموي. نوموړي وویل "افغانستان تل په طبیعي ناورینونو کې ښکېل وي، خو مونږ به یې تل لاسنیوی وکړو ".



# چین او ویتنام هېوادونو ته

# د افغاني سرې میاشتې د سرپرست عمومي رئیس سفر

د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص د جمادی الأولی پر ۲مه لومړی چین او بیا له چینه ویتنام ته سفر وکړ.

ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص او مل پلاوي په دې سفر کې له افغانستان سره د چین د ملي ټولنې او نورو مرستندویو اړخونو او په ویتنام کې د سویډن د ملي ټولنې د رهبرۍ بورډ له غړي کري ایسوما، د آی سي آر سي د نړیوالې کمېټې د آسیا د آرام سمندر د هېوادونو له مسئولې کریستین سیپولا او د ترکیې د سرې میاشتې له عمومي رئیسې آغلې فاطمې میرج یلماز سره د بشري مرستو پر دوام بېلابېلې لیدنې وکړې او هڅه یې وکړه، چې د وروستیو طبیعي پېښو له امله زیانمنو شویو سیمو ته مرستې را جلب کړي؛ ترڅو د زیانمنو وګړو پراخ او هر اړخیز لاسنیوی وشي.

په ویتنام کې د سویډن د ملي ټولنې د رهبرۍ د بورډ له غړي کري ایسوما او مل پلاوي سره ناسته کې د افغانستان له ګاونډیو هېوادونو د راستنېدونکو کډوالو پر لازم لاسنیوي او مرستو او په هرات ولایت کې د زلزله ځپلو پر ستونزو او هغوی ته د مرستو چمتو کولو پر څرنګوالي بحث او خبرې وشوې.

د سویډن د ملي ټولنې د رهبرۍ د بورډ غړي کري ایسوما ژمنه وکړه، چې دوی به تر خپل توانه له افغاني سرې میاشتې سره راستنو شویو کډوالو او زلزله ځپلو ته د مرستو په چمتو کولو کې لازمه همکاري وکړي او په افغانستان کې به خپلو فعالیتونو ته پراختیا ورکړي. نوموړي همدا ډول په افغانستان کې د بشري فعالیتونو په برخه کې ډاډ څرګند کړ، چې د افغاني سرې میاشتې تر څنګ به ولاړ وي.

ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص په همدې ورځ د آی سي آر سي د نړیوالې کمېټې د آسیا د آرام سمندر د هېوادونو له مسئولې کریستین سیپولا او مل پلاوي سره په ناسته کې له ګاونډیو هېوادونو د راستنېدونکو کډوالو او د وروستی زلزلې له امله د زیانمنو شویو کورنیو د ستونزو پر شریکولو سربېره له نوموړې غوښتنه وکړه، چې له افغاني سرې میاشتې سره د کډوالو ستونزو ته د ځواب وینې، هغوی ته د مرستو چمتو کولو، د سوري زړه په ناروغۍ د اخته ماشومانو لپاره په افغانستان کې دننه د مجهز روغتون د فعالولو او د رواني ناروغانو د درملنې په برخه کې همکاري وکړي. نوموړې هیله وښوده، چې په افغانستان کې د آی سي آر سي د نړیوالې کمېټې د مرستو ډېرښت ته جدي اړتیا ده او باید د روغتیا په برخه کې د آی سي آر سي نړیواله کمېټه افغاني سرې میاشتې ته د همکارۍ پراخ لاس ورکړي. ناسته کې آغلې کریستین سیپولا ژمنه وکړه، چې په یادو برخو کې به له افغاني سرې میاشتې سره همکاري کوي.

د یاد سفر په لړ کې د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص او مل پلاوي د ترکیې د سرې میاشتې له عمومي رئیسې آغلې فاطمې میرج یلماز او مل پلاوي سره هم ګډه لیدنه ترسره کړه. ناسته کې هرات ولایت کې له زلزله ځپلو کورنیو او له ګاونډیو هېوادونو له راستنیدونکو کډوالو سره پر هر اړخیزو مرستو، په سوري زړه د اخته ماشومانو پر درملنه او د افغاني سرې میاشتې په مرستونونو کې د بې سرپرسته کورنیو پر لاسنیوي خبرې وشوې.

ناسته کې د ترکیې د سرې میاشتې عمومي رئیسې آغلې فاطمې میرج یلماز ژمنه وکړه، چې په یادو برخو کې به د افغاني سرې میاشتې لاسنیوی کوي او په ګډه همکارۍ به په افغانستان کې بشري فعالیتونه ترسره کوي.




# په درې ولایتونو کې

# د ولایتي مجامعو پرانیست غونډې

د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس مولوي مطیع الحق خالص د ټولنې، ولسي وګړو او د افغاني سرې میاشتې ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا په موخه په غزني، کونړ او نورستان ولایتونو کې د ولایتي مجامعو پرانیسته وکړه.

ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص د غزني ولایت په پرانیست غونډه کې وویل "افغاني سره میاشت یوه خیریه او بشرپاله ټولنه ده، مونږ تل هڅه کوو، چې ددې خیریه ټولنې له لارې مرستې راټولې او تر خپلو هېوادوالو یې ورسوو ". نوموړي وویل "د هېوادونو مرستې له مونږ سره امانت دی او دغه امانت باید مونږ او تاسو په ګډه تر خپلو بېوسو او اړمنو هېوادوالو ورسوو ". ترڅنګ یې د ولایتي مجامع د اهمیت په هکله هم ګډونوالو ته خبرې وکړې.

د کونړ ولایت په غونډه کې ناستې ته د وینا پر مهال د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص وویل "د افغاني سرې میاشتې تعامل د ولس له هغو وګړو سره دی، چې د دوی او د الله سبحانه و تعالی ترمنځ پرده نشته، ځکه خو مونږ د ولایتي مجامعو د ایجاد له لارې هڅه کوو د ولسي وګړو په منځ کې واوسو او د دوی له ستونزو له ځان خبرولو وروسته د دوی لاسنیوی وکړو ". نوموړي وویل "که مونږ د ډېرو سختو اړمنو او زیانمنو د لاسنیوي لپاره په ګډه هڅې وکړو، نو شونې ده په ولسونو کې بېوزله وګړي راپورته کړو او په خپلو پښو یې ودروو ".

ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص وویل "مونږ د یو احساس پر بنسټ په ولسونو کې د استازو د ایجاد ګام اخیستی؛ ترڅو د اړمنو او زیانمنو هېوادوالو غږ پر خپل وخت تر مونږ راورسېږي، مونږ چې له هر ځایه مرسته راجلبوو؛ هغه د ولسونو ده ".

د نورستان ولایت په پرانیستغونډه کې د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص په خپلو خبرو کې وویل "نورستان ولایت ته مې پیغام راوړی، چې راځئ په ګډه د خپل بېوزله ولس لاسنیوی وکړو او د اړمنو او زیانمنو غږ واورو ". نوموړي وویل "زمونږ هوډ دی، چې ولس بل ته له لاسنیوي وژغورو او دوی ته واړه کاروبارونه ایجاد کړو؛ ترڅو ولس مو خودکفا شي ".

ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص وویل "هڅه مو ده د افغاني سرې میاشتې ښوونیزو مرکزونو کې اصلاحات راولو او د ټولنې پوه وګړي وهڅوو په رضاکارانه ډول دغو ښوونیزو مرکزونو کې ښوونکي شي ". نوموړي د غونډې ګډونوالو ته وویل "ستاسې مسؤلیت دی، چې مونږ ته به سخت ترین اړمن راپېژنئ او مونږ به یې له خپلو امکاناتو سره سم لاسنیوی کوو ".



# په کندهار ولایت کې

## د راستنېدونکو کډوالو د پنډغالو او رواني ناروغانو د مرکز لیدنه

د افغاني سرې میاشتې مرستیال الحاج ملا نور الدین ترابي د کندهار ولایت په بولدک او تخته پل ولسوالیو کې د راستنېدونکو کډوالو له پنډغالو او دا راز د رواني ناروغانو د مرکز لیدنه وکړه.

ښاغلي الحاج ملا نورالدین ترابي د افغاني سرې میاشتې د کارمندانو کارونه له نږدې وڅارل او همدا راز یې د صحي برخې او د ثبت کارمندانو ته هر اړخیزې لارښوونې وکړې او ددې ترڅنګ یې د خپلو کارمندانو له فعالیتونو رضایت څرګند کړ.

نوموړي له یادو کډوالو سره هم خبرې وکړې، د هغوی ستونزې یې واورېدلې او د مرستو ژمنه یې ورسره وکړه او همدا راز یې د یاد پنډغالي له مسؤلینو سره د کډوالو پر ستونزو خبرې وکړې، د دوی وړاندیزونه یې واورېدل او د حل ډاډ یې ورکړ.

د افغاني سرې میاشتې مرستیال الحاج ملا نور الدین ترابي د پنجشنبې په ورځ د جمادي الأولی د میاشتې پر ۱۰مه کندهار ولایت کې د رواني ناروغانو د ساتنې او درملنې له مرکز هم لیدنه وکړه.



# د سوري زړه پر ناروغۍ

## د اخته ماشومانو د درملنې په هکله ناسته

د افغاني سرې میاشتې مرستیال الحاج ملا نورالدین ترابي افغانستان کې د قطر هېواد د سرې میاشتې مسؤل ښاغلي احمد العثماني او د سوري زړه د درملنې د کورنیو روغتونونو له مسؤلینو سره د سوري زړه پر ناروغۍ د اخته هغو ماشومانو په تړاو ناسته تر سره کړه، چې په کور دننه یې درملنه ناشونې ده.

د ناستې په پیل کې ښاغلي ملا نورالدین ترابي د قطر هېواد د سرې میاشتې له مرستو د مننې تر څنګ د قطر د سرې میاشتې له استازي غوښتنه وکړه، هغو ماشومانو ته چې افغانستان کې یې درملنه نه کېږي؛ د اسانتیاو په رامنځ ته کولو کې افغاني سرې میاشتې ته د مرستې لاس ورکړي. ښاغلي ترابي د غونډې ګډونوالو ته په خپلو څرګندونو کې وویل "په ورځنۍ توګه افغاني سرې میاشتې ته له ۲۵ تر ۳۰ د سوري زړه ناروغۍ لرونکي ماشومان مراجعه کوي، په دوی کې یو شمېر داسې ماشومان دي، چې دلته یې درملنه ناشونې ده، له تاسو مې غوښتنه ده چې یادو ناروغانو ته په هېواد کې دننه د عملیاتو زمینه برابره کړئ ".

ناسته کې د افغاني سرې میاشتې مرستیال الحاج ملا نورالدین ترابي په خپلو خبرو کې د روغتونو مسؤلینو ته وویل "کوم ماشومان، چې تاسو ته د درملنې په موخه در پېژندل کېږي؛ ډېری یې د هغو کورنیو دي، چې په شخصي لګښت یې د درملنې توان نلري، دوی باید خپل بچیان وبولئ او تر وروستي حده ورسره همکاري وکړئ ".

ورپسې ښاغلي احمد العثماني په خپلو څرګندونو کې ژمنه وکړه، چې تر خپله توانه به په دې برخه کې له افغاني سرې میاشتې سره همکاري وکړي.

د غونډې په پای کې د هر روغتون مسؤل خپلې ستونزې او مشکلات واورول، چې د افغاني سرې میاشتې د مرستیال له لوري د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړل شو.



# همدیگر پذیری

عیسی خېل

پیوسته با گذشته.....

## ۳ـ صبر و حوصله مندی:

صبر اینست که در برابر اعمال و اقوال ناپسند صبر کرده از خود رد فعل نشان ندهید، زیرا بزرگان گویند صبر تلخ است ولی ثمر شیرین دارد. مفهوم حدیث شریف است که ثمره صبر جنت است. اگر از کسیکه با وی زندگی با همی دارید، حرف نادرست شنیدید و یا عمل نادرست دیدید، فورا مصمم بر جواب نشوید، بلکه صبر کنید و منتظر باشید تا حقیقت امر برملا شود. تصمیم عجولانه و بدون تبین غالبا درست نمیباشد، و باعث پشیمانی میشود. در صورت عملکرد نادرست جانب مقابل آزرده شده و از پذیرش شما کنار میرود، گرچه معذرت خواهی بعدی میتواند تا حد نا راحتی او را جبیره کند ولی صفائی که بعد از کدورت به میان می آید خدشه دار میباشد. این تربیه از قول الله متعال برداشته شده است که میفرماید:

" يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ " ۶\۴۹ ترجمه: ای کسانیکه شما ایمان دارید! اگر کدام فاسق با کدام خبر به شما آمد پس تبین کنید، تا نشود که شما با کدام قوم مواجه شوید، سپس به کار خود پشیمان باشید.

## ۴ـ ایثار و فدا کاری:

یکی از اعمال که باعث میشود تا دیگران ما را بپذیرند ایثار است، به گونه مثال گروه از مردم در معرض خطر مرگ قرار گرفته اند، و کسیکه میخواهد ایشان را نجات دهد نیز ممکن است با خطر مواجه شود، پس انسان که ایثار کرده ایشان را نجات دهد، نه تنها خودش بلکه فامیل و قبیله اش نیز در قلب جانب مقابل جایگیر میشوند.

و به یک معنای دیگر هم میتوان گفت: ضرورت دیگران را بر ضرورت خود ترجیح دادن، بطور مثال: در حالت تشنگی سخت و کمبود آب، انسان آب دست داشته خود را به یک انسان تشنه دیگر بدهد. چنانچه الله تعالی در وصف انصار رضی الله عنهم اجمعین میفرماید: " وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ " ۹\۵۹ ترجمه: و آنانیکه خانه و ایمان را از قبل آماده ساخته بودند، دوست دارند آنانی را که سوی ایشان هجرت کرده اند و ایشان را بر خود سبقت میدهند گرچه هم خود ایشان در حال مخمصه باشند. و کسیکه بخل نفسش را منع کند پس انها رستگاران اند.

## ۵ـ هدیه دادن:

یکی از روش های که باعث پذیرش دیگران میشویم اینست که به دیگران هدیه بدهیم، خوب است که به دوستان و همسایه گان خود هدیه بدهیم، هدیه چیزی است که هم به ثروتمندان و هم به مستمندان داده میشود و شخص مقابل گرچه ثروتمند هم باشد با دادن هدیه ناچیز شادمان میشود، و هدیه کننده در قلبش جا میگیرد، چنانچه پیامبر گرامی اسلام میفرماید: "تهادوا تحابوا " ترجمه: به همدیگر هدیه بدهید تا محبت نمائید.

## ۶ـ جبین گشاده:

ملاقات نمودن با دیگران با جبین گشاده و دهن مملو از تبسم در ذات خود صدقه و خیرات است، که میتوانیم ذریعه این خصلت در قلب دیگران جا پیدا کنیم و ایشان ما را بپذیرند، زیرا جبین گشاده باعث میشود که جبین جانب مقابل را نیز بگشاید که همین نقطه صفری شروع روابط حسنه و رمز همدیگر پذیری میباشد.

## ۷ــ رایج کردن لفظ سلام:

سلام در ذات خود یک معنی شامل و کامل دارد که تمام انواع دعاء ها را در بر میگیرد و طریقه مسنونه پیامبر گرامی اسلام صلی الله علیه وسلم نیز است، که البته تأثیرات مادی و معنوی را دربر دارد. سلام نخستین پیام و خطاب است که به جانب مقابل میدهم و برایش ایحاء مینمائیم که من خودت را دوست دارم. چنانچه مفهوم حدیث مبارک است که به هر شناخته و نا شناخته سلام بدهید. و اینچنین لفظ "افشوا السلام" نیز در احادیث وارد شده است.

## ۸ـ اجتناب از غیبت:

غیبت به مثابه خوردن گوشت جانب مقابل است بناء از بزرگ ترین و خطرناک ترین امراض است که آتش بدبيني و خشونت و دوری میان دلها را ایجاد میکند، زیرا چون شخص غیبت کننده برادر مسلمانش را در مجلس و حضور مردم بد گوئي میکند. پس هنگامیکه مردم سخنان این شخص غیبت کننده را بشنوند در مورد شخص غیبت شونده نظر منفی پیدا میکنند، در حین ملاقات با وی برخورد منفی میکنند، از همین جا است که کدورت ها ایجاد شده و همدیگر پذیری صدمه می یابد. و این چنین بدگمانی و تجسس از امور دیگران نیز باعث ایجاد فاصله میان قلبها میشود، به همین ملحوظ الله متعال این سه فعل نا شایسته را منع فرموده تا باشد که مردم برادر گونه زندگی باهمی داشته باشند. چنانچه الله متعال میفرماید: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ" ۱۲\۴۹ ترجمه: ای کسانیکه ایمان آورده اید! از بسیاری گمانها بپرهیزید، به یقین که بسیاری از گمانها گناه است و تجسس نکنید ویک دیگر تانرا غیبت نکنید،آیا یکی از شما دوست دارد که گوشت برادر مرده خود را بخورد، پس آنرا بد می پندارید، و از الله بترسید، به یقین که الله توبه پذیر مهربان است.

## ۹ـ احترام به سخنان دیگران و شنیدن آن:

هر شخص به فکر خود، خودش را خوب هوشیار تلقی کرده سخن میگوید، پس بر ماست که سخنان هر کس را با توجه عام و تام و حوصله مندی کامل تا اخیر بشنویم، بعدا در مورد چگونگی آن، که تا چه اندازه درست است، تا چه اندازه مفید است، تا چه اندازه علمی است، فکر و تدبر نمائیم و بعد از آن در قسمت پذیرفتن و عدم آن تصمیم اتخاذ نمائیم. و اگر ضرورت به جواب دهی باشد با ارائه دلایل موجه و قانع کننده به اسلوب نرم برایش جواب بدهیم زیرا جواب عجولانه و خاموش ساختن جانب مقابل مانع پذیرش همدیگر میشود، در این مورد ارشاد الهی طوریست که میفرماید: "الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُولَئِكَ هُمْ أُولُو الْأَلْبَابِ" ۱۸\۳۹ ترجمه: آنانیکه سخن را گوش میدهند پس سخنان خوب را پیگیری میکنند. سیدنا رسول الله صلی الله علیه وسلم هنگام صحبت کردن با دیگران تمام توجه خویش را به طرف مقابل میساخت و حتی سینه مبارکش را رو به روی جانب مقابل قرار میداد.

## ۱۰ـ وصیت لقمان حکیم به پسرش:

لقمان حکیم میخواست پسرش میان مردم شخص خوب و پذیرفته شده باشد بناء به او چنان وصیت میکند که الله سبحانه و تعالی حکایت میکند: "وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ" ۱۸\۳۱ ترجمه: و چهره ات را (متکبرانه) از مردم مگردان، و نه در زمین مستانه قدم بزن، به یقین که الله تعالی هر خیال بلند فخر کننده را دوست ندارد.

بعض اشخاص خود خواه هنگام حرف زدن با دیگران چهره اش را به مخاطب متوجه نکرده بلکه رخسارش را تاب داده گرفته به کنج چشم به مخاطب نگاه میکند و این چنین یک نوع رفتار خاص دارند که قرانکریم آن را به مرح تعبیر کرده است چنین عمل دلالت به حقیر پنداشتن مردم و مخاطب میکند و باعث نفرت مردم میشود، زیرا انسانها همه احساس عزتمندی میکنند، زمانیکه از طرف دیگران حقیر پنداشته شوند، ایشان هم شخص متکبر را به حقارت نگاه میکنند، بناء همدیگرپذیری از میان برداشته میشود و خود خواهی ها ترویج میشود. قرانکریم به چنین اشخاص وصیت عاقلانه کرده او را متوجه حالش میسازد که خودت نه آن چندان قوی هستی که زمین را پاره کنی و نه در بلندی به فراز کوه رسیده میتوانی، بناء مناسب نیست که خود را بزرگ و بلند پنداشته و دیگران را حقیر پنداری.



# وېره څنګه وژلی شو؟

محمدآصف احمدزی

دا باید ومنو، ټول ومنو، چې وېره شـــته. کله چې منفي خیالونه موجود وي، نو طبعاً وېره به هم وي، ځکه وېره د منفي فکرونو زېږنده ده.

کله چې مونږ او تاســـې د ورځنیو کارونو په کولو اقدام کوو؛ د کارونو له پیل کېدو مخکې یو ډول وېره را پیدا کېږي؛ چې دا وېـره د پـرمختګ لومـړی دښمن دی. که دا وېره د کار له پیل کېدو مخکې ډب نه شـــي، هیڅ کله به خپلو کارونو کې بریالي نشو. په پیل کې پوښتنه را ولاړېږي؛ وېره څنګه وژلی شو؟

## راځئ وېره ووژنو!

ډېوېډ شـوارټز په خپل کتاب "لوی فکر جادو" کې لیکلي "د پراشـوټ یوه روزونکي راته کیسه کوله، چې خپله راټوپ کول دومره سخت نه دي؛ له دې ټوپ کولو وړاندې حالت سړی خوري. زه هڅه کوم چې له ټوپ کولو وړاندې وخت ډېر زر تېر شي. زیاتره وخت خلک ددې ټوپ په پایلو دومره فکر وکړي، چې وېره ورته پیدا شـي او له کاره یې وغورځوي. که مونږ یې دې کار ته تیار نه کړو، چې راتلونکي پرواز کې ټوپ کړي، نو ښـــایي بیخي دا کار پرېږدي. څومره چې تاسـې د ټوپ او الوت شــېبه ځنډوئ، هومره در باندې وېره ډېره سپرېږي ".

د وېرې ختمولو او په ځان باور پیدا کولو لپاره هر کار چـې پـر وړاندې مو وي پیل یې کړئ؛ لټي او بهانې پرېږدئ، ځکه بهانـې او لټـي خپله وېـره رامنځته کوي.

که غواړئ د وېـرې/ډار مخه ډب کـړئ لاندې مهارتونه پیدا کـړئ؛ کېدای شي ښودل شوي مهارتونه ستاسې وېره ووژني!

## د کار پر وړاندې ژر اقدام وکړئ:

دا په یاد ولرئ ترڅو چې د کار پـر وړاندې ژر اقدام ونه کـړئ، هیڅ وخت به د وېرې مخه ډب نه کړئ.

که ژر اقدام ونه کړئ، د وېرې پر مهال هر څومره انرژي او ډاډ چې لرئ هغه هم له منځه ځي، ځکه وېره انرژي ختموي او د انرژۍ تر څنګه ســـتاســـې ډاډمنتیا هم د وخت په تېرېدو له منځه ځي.

د وېرې ختمېدو په پاره به ښـه دا وي، چې تاسـې ژر اقدام وکړئ، ځکه اقدام مو وېره وژني.

زما یو ملګری و، د خپلې څلور کلنې تحصـیلي دورې د پای ته رسېدو په پاره یې له موضـوع څخه دفاع کوله، ډېر وېرېدلی و. د موضـوع له دفاع کولو څو ساعت مخکې یې له ځان څخه ځینې پوښتنې کولې:

په تالار کې به د ښـــوونکو او نورو زده کړیالانو پر وړاندې څنګه موضـــوع تحلیل کوم؟

زما مونوګراف به د ښوونکو پر وړاندې ښه وارزول شي!؟

آیا زما مونوګراف به ومنل شـــي؟... دې ته ورته نورې پوښـــتنې یې هم تکرارولې. حال دا چې دا رنګه پوښتنو دده وېره لا زیاتوله. ملګری مې تر دې اندازې راغی؛ غوښتل یې چې د وېرې ختمېدو لپاره ګولی وخوري.

کله چې د مونوګراف د دفاع لپاره د دریځ مخې ته لاړ، په پیل کې د موضوع د پېژندګلوۍ په وړاندې کولو کې ښه و، خو د موضوع په تحلیل او د پوښـتنو په ځوابونو کې پاتې راغی.

هیڅکله مه وېرېږئ؛ د وېرې پر ځای اقدام وکړئ، ځکه ستاسـې وېره تاسـې ته حرکت نشـــي در کولای بلکې ستاسې اقدام تاسې ته حرکت در کولای شي.

## پر ځان باور پیدا کړئ:

څنګه چې غواړئ همغه شان جوړېږئ؛ که ماته احســـاسوئ بې له شکه چې ماته به خورئ او که برې احســـاسوئ، نو بریا ته رسېدل به هیڅ ستونزمن نه وي؛ ان شاءالله چې رسېږئ به.

که غواړئ وېره ووژنئ د کار له پیل کولو مخکې پر ځان باور پیدا کـړئ، ځکه باور ستاسې وېره وژني او د وېرې وژلو سـره سـره تاسـې لا د خپلو کارونو پر وړاندې ځواکمن کوي.

همدارنګه کله چې تاسـې پر ځان باور ولرئ؛ همدا باور بیا تاســې ته د وېر په مقابل کې د کار کولو او بریا ته رسولو انرژي در کوي.

## د حل لارو په لټه کې اوسئ:

د کومو کارونو په وړاندې چې وېره لرئ د وېرې پر ځای یې د حل لارو په لټه کې شئ؛ ناممکنه خبره به وي چې د یو کار حل لار دې پیدا نشي.

که تاسې وغواړئ د ستونزو په پار حل لارې پیدا کړئ، حتمن یې پیدا کولای شـــئ. برعکس که حل لارې پیداکول ونه غواړئ، نو هیڅکله به یې پیدا نه کړئ.

تل کوښــــښ وکړئ د وېرې مخ ډب کړئ؛ که د وېرې مخ ډب نه کړئ، هیڅکله به تاسې پرېنږدي، چې له شته فرصتونو ګټه واخلئ.



# مصئونیت

معراج الدین ظهیر

**پیوسته با گذشته.....**

درمباحث قبلی مسائلی پیرامون مصئونیت ازدیدگاه های مختلف گفتگو صورت گرفت که نتیجه آن الزاماً بحث را تا تعریف و بیان سرحد عناصر هشتگانهٔ مصئونیت ومقایسهٔ هشت اصل مصئونیت درتطابق با هفت اصل اساسی رسانید چون اصول مصئونیت برگرفته شده از اصول اساسی است البته دراین بحث قسمیکه لازم است هشت عنصر مصئونیت را بطور جداگانه بعد ازمقایسه مورد بحث قرار میدهیم که چنین تعریف و بیان و رعایت اصول مبنای حقوقی سازمان، طرزالعمل کارمندان و رعایت اصول رضاکاران را درهمه جا و درهرزمان بمنظور ارائهٔ خدمات بشری محفوظ میدارد. چنانکه میدانید هلال احمرافغانی دارای هفت اصل اساسی پذیرفته شدهٔ ملی و بین المللی میباشد که این اصول بعنوان اصول خدمات بشری درسازمان های خیریه ملی و بین المللی کاربرد داشته بخصوص درنهضت بین المللی صلیب سرخ و جمعیت های ملی هلال احمرها منظور گردیده است. خروج ازاین اصول انحراف سازمانی پنداشته میشود چون خدمات بشری و تقلیل آلام آسیب دیده گان حوادث برمبنای اصول اساسی صورت میگیرد. حتی متضمن اصلی و اساسی مصئونیت کارمندان و رضاکاران نهضت و جمعیت های هلال احمرها میباشد یا مصئونیت کارمندان و رضاکاران وابسته به نهضت متعلق است به رعایت این اصول. یعنی درحقیقت رعایت اصول اساسی مصئونیت پنداشته میشود. ولی، هشت اصل مصئونیت نیز ازاین هفت اصل اساسی گرفته شده که رعایت آن جلب اعتماد و اعتبار سازمان را درمیان سازمان های خیریه ملی و بین المللی، دولت ها، طبقات اجتماعی و متضررین حوادث حین وقوع حادثات بالا میبرد. مصئونیت دارای هشت اصل است که رعایت آن مبنائی حقوقی سازمان را تضمین، پذیرش و ارزش های مادی و معنوی سازمان را تحکیم، ارزش ها و کرامت انسانی را بدور ازتعصبات و تبعیض متبین میسازد. روی این منظور هشت اصل مصئونیت برخواسته از هفت اصل اساسی سازمان بوده که قدامت تاریخی اصول هفتگانه متقدمتر ازتاریخ هشت اصل مصئونیت میباشد. اصول هفتگانهٔ هلال احمر ها ازنظر تاریخی و زمانی مقدمتر از اصول مصئونیت است چون هشت اصل مصئونیت بنابر لزوم دید زمانی مقید گردید وگروهی محققین سازمان جهانی صلیب سرخ تلفات ناگواری را برکارمندان و رضاکاران خود حین ارائهٔ خدمات بشری به متضررین مشاهده نمودند و درصدد اصول و طرزالعملی برآمدند تا نجات بخش جان و مال سازمان وکارمندان باشد تا بطور بهتر بتوانند تقلیل آلام بشری نمایند چون مصئونیت گروه پاسخدهی بمنظور تقلیل آلام آسیب دیده گان حوادث طبیعی و غیر طبیعی ضروری پنداشته میشود ازاینرو اصول مصئونیت کارمندان و رضاکاران را زیرچتر مصئونیت خود محفوظ داشته سبب ارائهٔ خدمات بهتر میگردد. دراین حال نیازهای مبرم قربانیان حوادث بوجه احسن برآورده خواهد شد. بنابرین هشت اصل مصئونیت نه تنها برای کارمندان و رضاکاران جمعیت های ملی هلال احمر کار برد دارد بلکه آحاد اجتماعی، خانواده ها، صنوف کارگری و سایر مؤسسات خیریه ملی و بین المللی میتوانند زیربنای اصالت اصول مصئونیت طرزالعمل های خویش را بمنظور حفظ ارزش های سازمانی خود استحکام بخشند. ازسوی دیگر تقاضا و نیازهای اجتماعی که درهرزمان بگونه های مختلف و سرسام آور درحال پیشرفت میباشد میتواند سازمان های خیریه را وا دار سازد تا چنین تقاضا ها را برآورده ساخته که سازمان های خیریه درچنین موارد بمنظور ارادهٔ بهتر خود نیازی به این اصول پیدا میکنند. اما مصئونیت عرضهٔ خدمات بشری با مصئونیت سیاسی، نظامی، تعلیمی، هنری، بنابرتقاضا و هدف سازمان ها تغیر اندکی دارد چون هر نهاد سیاسی و دیپلوماسی، حقوقی، هدف معین مصئونیت خود را دارند و هشت اصل مصئونیت جمعیت های ملی هلال احمر ها برگرفته شده از هفت اصل اساسی بوده و این اصول نیز کاملاً اهداف خدمات بشری برای قربانیان را بیان، تعریف و دنبال میکند که هیچ نوعیت سیاسی، طبقاتی و سایر اهداف وابسته به گروه ها را ندارد.

. بحث ما اینجا همان مصئونیت پاسخدهی به مصیبت دیده گان حوادث طبیعی و غیر طبیعی میباشد و دراین اصول مباحث سیاسی جایگاه نداشته چون خود این اصول برعلیه چنین ایده های مغرض طبقاتی، تبعیض گرائی، تعصب پسندی مبارزه میکند و هدف آن حفظ مال و جان کار بران سازمان بیطرف میباشد. بنابرین لازم است تا اصول هفتگانه اساسی و اصول هشتگانهٔ مصئونیت را درتناسب هم طور جداگانه بگونهٔ مختصر بمنظور وضاحت بیشتر موضوع تعریف و تشریح و بیان نمائیم.

اصل اول مصئونیت (تحلیل و ارزیابی) مشتق ازاصل هفتم اصول اساسی (جهان شمولیت).

اصل اول هشت اصل مصئونیت هلال احمرافغانی (تحلیل و ارزیابی) است.

تحلیل و ارزیابی، زادهٔ جهان شمولیت است.

اصل اول مصئونیت (تحلیل و ارزیابی) برگرفته شده از اصل هفتم اصول اساسی (جهان شمولیت) میباشد که جهان شمولیت ازنظر تسلسل اصول اساسی ورعایت آن اصل هفتم هلال احمرافغانی را احتوا می نماید. یعنی مصئونیت هلال احمرافغانی را درسطح بین المللی چه از نظر امتیازات حقوقی، امتیازات مادی و معنوی، درمیان همه جمعیت های ملی مماثل بیان میدارد. لازم است تا جمعیت ملی افغانستان قبل از اقدامات عملی و عملیات پاسخدهی پیرامون تقاضا های جمعیت های ملی مماثل تأمین ارتباطات نموده طرق سهل و تسهیلات لازم را درتحقق امور اجرائی جستجو نماید. ویا با مؤسسات بین المللی خیریه شیوه های برخورد کاری را طبق طرزالعمل ها و پالیسی ها محقق سازد، یا: با حکومت ها و ادارات رسمی مستقل کشور ها چگونگی تأمین روابط خویش را وضاحت بخشد، یا: نحوهٔ انتخاب شرکای کاری را درمنافع جمعیت ملی مطابق استراتیژی تعین نماید، یا: روند توسعه ودریافت کمک ها و هماهنگی ها همه درشرایط و فضای حاکم برنظام ها را ارزیابی و بررسی نموده تا منافع هلال احمرافغانی درسطح بین المللی خدشه دار نگردد. یا این همه درچوکات اصول هفتگانه صورت گیرد. دراین حال هلال احمرافغانی نمیتواند هیچ نوع کمکی سیاسی چه از نظر اقتصادی، مصلحت اجتماعی، سیاسی و دیپلوماسی را برای احزاب سیاسی و دولت ها انجام دهد. یا: درگیر تفاهمات بی مورد وسوء ظن ها گردد. یا: بستر راه های گروه های متخاصم را که مسیر رسیدن به هدف را صعب میسازند ارزیابی نموده راه های رسیدن به هدف را جستجو و تسهیلات لازم را فراهم نماید.

تأمین ارتباطات خارجی بمنظور رفع مشکلات مسیر رسیدن به هدف میباشد. یکی ازشیوه های مصئون ماندن هماهنگی و تأمین ارتباطات با مرجع مورد نظر است. حتی کمک و مساعدت نمودن براحزاب سیاسی و نهاد های خیریه که وابسته اند به دولت ها ازنظراصول جایگاه ندارد و رفتن به مسائل سیاسی ازنظر اصول مصئونیت واصول اساسی به جمعیت ملی درست نمیباشد. دراین حال هلال احمرافغانی تنها شریک کاری که درسطح کشور ها دارد تنها جمعیت های ملی همان کشور بوده میتواند روی عقد قرار دادی موارد مورد نظر و نیاز خود را تأمین نماید. و یا با هرنهاد خیریه که تأمین ارتباطات مینماید بمنظور رفع نیاز ها روی قرار داد معین و مشخص عقد میگردد. مثلاً حین کمک به آسیب دیده گان حوادث کشورها درنخست میتواند درهماهنگی وتأمین ارتباطات با جمعیت ملی آن کشور تسهیلات لازم را درتسریع روند ارائهٔ کمک ها برقرار نماید. این حالت را باید به دقت تحلیل و ارزیابی نمود مثلاً، چنین ارائهٔ کمک های بیرونی به آسیب دیده گان میتواند یکنوع نیازمندان داخلی را ناراضا سازد. یا مسائل پیچیدهٔ دیگری شاید در درون توافق به کمک ها وجود داشته که مصئونیت حقوقی و مرزی هلال احمرافغانی را خدشه دار سازد. بناً، اصل اول هشت اصل مصئونیت مرتبط است به اصل هفتم اصول اساسی و یا از آن برخواسته است بمنظور تأمین روابط متداوم زمانی بمنظور حفاظت حقوقی. بنابرین میتوان اصول هلال احمرافغانی را اصول بین المللی دانست که برمبنای آن کمک های خیریه خود را میتواند برمصیبت دیده گان حوادث به اسرع وقت برساند. ولی قبل از اقدامات باید تحلیل و ارزیابی، تأمین ارتباطات، ارزیابی شرایط و وضعیت حاکم و مدیریت عملیات عاجل و حالات اضطراری برون مرزی را طور دقیق تحلیل و بررسی نمود.

اصل دوم مصئونیت (مبنای سیاسی و حقوقی) است که ازاصل اول هفت اصل اساسی هلال احمرافغانی برخواسته است که آنرا (بشردوستی) میگویند. یعنی: مبنای سیاسی و حقوقی، برگرفته شده ازاصل بشردوستي است وبدان مرتبط است.

چگونه ازمسائل سیاسی درچوکات حقوقی در اندیشه های بشر مبتنی بربشردوستی مصئون ماند؟.

انسانها نیازی به دریافت حقوق ازدست رفتهٔ مادی و معنوی خود دارند. مبنای سیاسی و حقوقی وابسته و برخواسته از اصل بشردوستی است. یعنی حقوق بشر دوستانه، البته حقوق بشر تا حقوق بشردوستانه تفاوت دارند دربحث های آینده ان شاءالله تفاوت آنها مورد بحث قرار میگیرد اینجا منظور بحث تنها حقوق بشردوستانه میباشد. حمایت ازحقوق و ارزش ها، امتیازات مادی و معنوی، کرامت انسانی، تعظیم و حفظ شرافت و ناموس بشریت، هویت و شخصیت والای انسان، از ارش های متعالی انسانیت است که دریافت گمشدهٔ خویش را میطلبد و این ضیاع ارزش ها درمحیط منازعات مسلحانه، بستر پهن تبعیض طبقاتی و تعصبات مذهبی خود را گم میکند یا اسیر درد ها میشود، یا فرار اندیشه ها، یا: معلول و معیوب میادین کور و کر جنگ، هرچه هست و میآید برسرانسان تا انسانیت خویش را گم کند همان حالات نامناسب برخواسته ازجنگ است. جنگ های پارتیزانی، درگیری های قومی برسر منافع قومیت، هجوم بیرحمانهٔ زورگویان زمان برحریم حرمت دیگران بمنظور تأمین منافع، جنگ های فکری که انسانیت انسان را نابود میکند و ارزش های مذهبی و دینی را برباد میدهد. این همه درگیری های متخاصم اسارت و معلولیت و معیوبیت ها را بدنبال دارد تا سرحد نابودی ارزش ها.

درطول تاریخ بشریت ازآغاز تا حال و انجام منازعات مسلحانه بنحو خودش درهر زمان و هرنسل وجود داشته است و دراین جنگ ها معلولیت و معیوبیت و اسارت ازجمله ضروریات آن محسوب میشود. کارمندان و رضاکاران جمعیت های ملی درهرزمان درمیان خون و دود و جنگ وآتش در خط دوم جنگ ها با پایگاه های صحی، کمک های اولیه غذائی، برنامۀ جستجو و ردیابی، پروسۀ انتقال مجروحین بمراکز صحی حضور داشته و توانسته اند که به اسرع وقت جان هزاران انسان را نجات بخشند. بهرحال نهادی برخواسته از درون جنگ و دود و خون وآتش که متقاضی تقلیل آلام بشری و مصیبت دیده گان حوادث میباشد نباید دراین منجلاب منازعات طرف واقع شود چون خود برخواسته از یکنوع ارزش های است که بدان احسان گویند، احسان مال و جان، احسان انسانیت و لطف و مرحمت، نمادی از مهر و محبت و همدلی و همپذیری، تظاهر نمادی از شکوه و جلال و عظمتی که میخواهد همراز وهمنوای بیدلان و بی آرمان ها و نومید ها گردد، دراین مجادلات، تحلیل و ارزیابی جداً اصل حقیقت گرائی پنداشته میشود چون مسئولیت دفاع و حمایت از حقوق گم شدۀ معلولین منازعات را دارد درحد تقلیل آلام. اما هلال احمرافغانی سیاسی نیست و کارهای سیاسی نمیکند ونیز نهاد نظامی و مسلح نیست کارهای جنگ و هنرجنگ نیاموخته است بلکه افراد سیاسی و اسیران جنگی را درحالات نیازمندی و محتاجی تا سرحد انسانیت کمک و مساعدت می نماید. بهرحال مصئونیت حقوقی، ارزش های معنوی و مادی، جان و مال این نهاد خیریۀ ملی، وابسته است به عملکرد خوب درهمه زمان طبق هفت اصل اساسی این نهاد خیریه ملی. بدین معنا که اصل بشردوستی که مسائل قومیت، طبقاتی، مذهبی، منافع خاص گروهی را مدنظر نگرفته صرف اولویت میبخشد درحالات وقوع حوادث و منازعات مسلحانه به کسانیکه احساس ضرورت اشد دارند یا معلولند و معیوب، یا ضرورت به انتقال بمراکز صحی دارند، یا کهن سالان و اطفال اند، یا بیماران مجروح و زخمی، نیازدارند به کمک های اولیه غذائی و صحی، یا زیر آوار مانده گانی اند، هرچه هست درهمه حال ضرورت احساس میشود برای نجات آنها. دراینجا تعصب و تبعیض برای نجات جان و مال کسی که نسبت به آن کسی دیگری مجروحتراست خلاف هفت اصل اساسی و هشت اصل مصئونیت پنداشته میشود. ویا تحلیل و ارزیابی صورت گیرد که بچه پیمانه مسائل حقوقی وسیاسی درمنابع بشری سازمان تطبیق گردیده است و یا حین اجرای فعالیت درنظرگرفته شده است چون بیشتر شناخت هویت این نهاد خیریه مرتبط است به فعالیت ها طبق اصول.

اصل سوم مصئونیت (پذیرش سازمان) است که برگرفته شده ازاصل ششم اصول اساسی (وحدت) میباشد.

اصل سوم هشت اصل مصئونیت هلال احمرافغانی (پذیرش سازمان) است.

سازمان واحد.

هرگاه دریک کشورکه دارای مرزها وحدود و ثغور معین و مشخص میباشد، دوجمعیت ملی عرض اندام نمیتواند بکند، چون تشکیل دوجمعیت ملی دریک کشور برخلاف اصول اساسی و انعقادات بین المللی جمعیت های ملی میباشد. وهم ازنظر ساختار تشکیلات اداری و ترتیب و تنظیم قوانین و اصول درمغایرت هم قرار میگیرند. درطول تاریخ ایجاد نهضت جمعیت های ملی، دوجمعیت ملی دریک کشور تأسیس نگردیده است الا درزمان جنگ های طولانی یا طرح تجزیه طلبی وجدا شدن بدوبخش درصورتی که هردو بخش ازطرف کشورها شناخته شوند نهضت جمعیت های ملی نیز هلال احمرهای متشکل را بعنوان مستقل می شناسد درغیر آن حضور دو رئیس و رهبر دریک ساختار تشکیلاتی بنام کشور آزاد و مستقل درجلسات تصمیم گیری نهضت در جینیوا پذیرفته نخواهد شد. دراین صورت هیچکدام مصئون نخواهند بود چه ازنظر اصول، طرزالعمل ها، قوانین، منابع بشری، طرز سلوک کارمندان و رضاکاران، مسائل حقوقی ونیز شناخت آن درمیان جمعیت های ملی مماثل، حمایت دولت ها، کسب اعتبار و اعتماد درمیان مردم و جامعه، ورود به ساحۀ وقوع حوادث، تمویل مردم خیراندیش برعلاوه این چنین ها بروز اختلافات فکری، قومی، مذهبی، تهدیدات و خطرهای ناشی از عقده ها، کینه ها، و سایر مسائل دیگری نیز مصئونیت آنرا درمعرض خطر قرارمیدهد. طبق اصول و قوانین منظور شده نهضت صلیب سرخ و فدارسیون جمعیت های ملی درهرکشور تنها میتواند یک جمعیت ملی منظور شده و پذیرفته شده باشد چون تعدد وتکثر نهاد های خیریه بنام جمعیت هلال احمر بروز مشکلات فکری و طرزالعمل های را دربرخواهد داشت که ازنظر تمویل مادی و معنوی برمتمولین داخلی و خارجی مشکلات را ببار میآورد. ازسوی دیگر اصول اساسی نهضت و جمعیت های ملی مماثل را نمیتوان بگونه های مختلف تغیر داد و بنابرخواست گروه ها و یا عدۀ ازباشنده گان جامعۀ کوچکی که دریک مرز وبوم زنده گی دارند مورد تغیر قرار گیرد. همانگونه که سازمان واحد مصئونیت را تعریف میکند مردم و طبقات کشور را نیز وحدت میبخشد برای کمک به آسیب دیده گان حوادث. ازسوی دیگر یک نشان واحد ازطرف دولت ها که حامی جمعیت های ملی هستند ویا جمعیت های ملی معین درامور دولت بمنظور ارادۀ خدمات بشردوستانه به قربانیان حوادث میباشند برسمیت شناخته میشود ودولت ها صرف ازیک نهاد رسمی خیریه بنام جمعیت ملی حمایت میکنند وهمه امور خیریه را طبق اصول بدان محول میسازند. درصورت شناخت دوجمعیت ملی ازطرف دولت دریک کشور خود سبب منازعات، عدم مصئونیت، بروز اختلافات درمیان مردم و جامعه میگردد چون جمعیت های ملی ازمیان مردم برای حمایت مردم برخواسته اند. سازمان واحد خیریه خود نیز بعنوان نماد وحدت طبقات اجتماعی مسئولیت دارد تا افراد وابسته به جمعیت ملی را ازطبقات مختلف مردم که سهم بارزی درتشکیل منابع بشری دارند شریک ساخته تمثیل وحدت را ممثل گردد. هرگاه هرجمعیت ملی که آحاد وابسته به ملیت ها را درنظرنگیرد آن جمعیت، ملی نبوده و مصئونیت خود را خدشه دارمیسازد. برخلاف اصول و قوانین نیز عمل کرده است. پس مصئونیت سازمان درنحوۀ ساختار تشکیلات منابع بشری آن مصئون است.



# ژور خپګان او نښې يې

د. میرویس دانش

یوه یا دوه ورځې خپه پاتې کېدل د ژور خپګان نښه نه بلل کېږي بلکه هغه وخت د ژور خپګان علایم ښکاره کېږي، چې په پرله پسې ډول د دوه اونيو یا زیاتره وخت لپاره خپګان ولري یا هغه د علاقې وړ کارونه، چې پخوا يې کول هغه ته نوره علاقه ونه لري. لکه د یو چا کرېکټ لوبه زیاته خوښېده او اوس ورته اصلاً زړه نه ښه کوي، چې دا لوبه وکړي. د ګرځېدو را ګرځېدو کموالی، په وزن کې زیاتوالی یا کموالی، د خوراک غیر مناسب ډول (ځوک داسې وي چې زیات خوراک کوي او ځوک لږ خوراک کوي)، کله کله د اشتها زیاتوالی، چې زیاتره خواږه شیان خوري یا د اشتها کموالی، چې پخلي یا خوراک سره يې علاقه نه وي.

ژور خپګان کله کله د بې خوبۍ باعث کېږي یا ځینې کسان زیات خوب کوي او بیا يې هم خوب پوره نه وي او بې انرژۍ وي او یا ډېر بې حرکته یا ډېر متحرکه او نارامه اوسېدل. د غلطۍ احساس درلودل یا د یو پښېمانۍ احساس د یوې موضوع لپاره نه بلکې یو دوامداره احساس، همدارنګه نور علایم لکه له ټولنې څخه پر هېز کول او په انزوا کې اوسېدل. ځینې کسان، چې ډیپرېشن لري هغوی زیاتره وخت خپه نه وي بلکې ډېر حساس وي او په یوه کوچنۍ خبره ډېر احساساتي کېږي او یا قهر ورځي.

فزیولوژیک عامل يې د جنسي اړیکو نه خوښول او یا بی علاقه ګي ده او یا ځینې کسان ډېر احساساتي او ژړغوني وي. همدارنګه ځینې کسان، د تمرکز اختلال لري او یا تصمیم نشي نیولی، یا د حافظې کمزوري لري او همدارنګه فکر کوي، چې څرنګه خپل ځان زیانمن کړي. یا کله کله کوښښ کوي، چې ځان وژنه وکړي. ضرور نده، چې هریو کس دا ټول علایم ولري، هغه وخت چې ځوک له یادو علایمو څخه یوه یا دوه علامې د یوې اوږدې مودې لپاره یعنې له څو اونیو او میاشتو څخه را پدې خوا ولري، نو دغه ته مونږ ډیپرېشن یا ژور خپګان ویلی شو.

دا هغه علایم دي، چې په ورځنیو فعالیتونو اغېزه کوي، ډېرى خلک چې له ژور خپګان سره مخامخ وي هغوی مضطربه هم وي او نور فزیکي دردونه لکه د غاړې او یا عضلاتو دردونه هم درلودی شي. د نارینه په پرتله ډیپرېشن په ښځو کې زیات وي.

## کومه ډله خلک له ژور خپګان سره مخامخ کیدای شي؟

ځوک چې په کورنۍ کې يې کوم یو غړی ژور خپګان ولري، چې د کورنۍ دغه غړي ته د لومړۍ درجې قریب ویل کېږي، لکه کور کې پلار، نو د دې کسانو له ډیپرېشن سره مخامخ کېدل درې تر څلور ځله د نورو په پرتله زیات وي. دا يې ارثي عوامل دي او همدارنګه د چاپېریال اغېزه هم وي، دا چې څومره اغېزه ارثي وي او څومره د چاپېریال دا معلومه نده. یا کوم کس چې خپل زړه ته نږدې کس يې له لاسه ورکړی وي، لکه اولاد، مېړه، یا د اوږدې مودې لپاره ترې جلا شوی وي یا کورنۍ تاوتریخوالي سره يې وخت تېر کړی وي، هغه کسان چې د تراوما څخه تېر شوي وي، یا يې په ژوند کې ناڅاپه لوی بدلون راغلی وي، همدارنګه غربت، مسافري او یوازېتوب کولی شي د ژور خپګان سبب وګرځي.

دغه ټول پورتني عوامل په نظر کې نیولو سره اوس مونږ کولی شو، چې د دغه ماډل یا نقشې پر بنسټ بهتره پوه شو، چې ژور خپګان یعنې څه؟

فکر وکړئ، چې په یوه دایره کې څلور مستطیلونه شته دي، هر مستطیل د دایرې په y x محور کې دی، هر یو يې د یو جلا احساس لپاره ځانګړی شوی دی مثلاً د x په محور کې مثبت خواته عادت او منفي خواته فزیولوژیکي عوامل دي او د y په محور کې افکار او منفي خواته د احساساتو مستطیل دی. تاسو کولی شئ دغه څلور مستطیلونه له یو بل سره له دوو خواوو د غشي په واسطه وصل کړئ او دایره د یو حالت په نامه ونوموئ.

د بېلګې په توګه: تاسو ته یوه ورځ ویل کېږي، چې سر له دغې میاشتې څخه تاسې دغه کار ته مه راځئ ځکه نوره بودجه نشته او تاسې له کار څخه ووېستل شئ، دا شو حالت. په داسې حالت کې ستاسې فکر کې څه تېرېږي؟ چال چلند مو څنګه وي؟ لکه قهر، ناامیدي، وېره، پښېماني یعنې ټول احساسات مو منفي احساسات وي، اعصاب مو نا آرامه وي، تېر شوي حوادث مو هم ذهن ته راځي او په فزیکي حالت کې مو هم اغېزه کوي لکه د نس درد، اسهال د عضلاتو شخي، بې خوبي، دا هم ستاسو په چال چلند او احساساتو کې اغېزه کوي، همداسې تاسې ټوله ورځ هیڅ نه کوئ او کور کې پاتې کېږئ، خپل ورځینی مهالوېش په مخ نه بیایئ، په ځان پام نه ساتئ او ځان درته یو غلط انسان ښکاري او بې انرژي حالت سره مخامخ کېږئ، یعنې یو منفي فکر مو ذهن کې تاوېږي.

## ډیپرېشن یا ژور خپګان څنګه درملنه کېږي؟

ښه خبره دا ده، چې ډیپرېشن یا ژور خپګان درملنه لري او د تجربو پر بنسټ ویلی شم، چې دا درملنه درې ډوله ده. فارماکوتېراپي یا دارو اخیستل، رواني تېراپي لکه سي بي ټي یا کانیتیف بیهیفیرال تیراپي او انتر پرسونال تیراپي یا اې پي ټي.

سي بي تي ډېره اغېزمنه ده، خو ځيني کسانو ته او همدارنګه اې پي تي چې خپل مخصـوص موضوعات لري او پرې غور کېږي، خو کله کله د شرم او يا د ناروغی پټول د دې سبب ګرځي، چې د ناروغ سمه درملنه ونشي يا د مرض عوارض سم بررسي او تشخيص نشـي او يا هم د اوږدمهاله درملنې او لګښـت له کبله درملنه دوام ونه مومي، خو ښه خبره دا ده، چې د سـي بي تي او اې پي تي ځينې اغېزمن ټکي د کورنی د غړو په مرسته ناروغ خپله عملي کولی شي.

سي بي تي په ۷۵ سلنه کســـانو کې اغېزمنه واقع کېږي او دا درملنه د راتلونکو دورو په وړاندې شخص بچ کولی شي، په دغه میتود کې د اوسمهاله مشـــکلاتو په هکله ډېر ځير کېږي او له تېـرو تاريخچو څخه تېـريـږي، خو د دې لپاره بايد کوښـښ وشـي. دا لنډمهاله درملنه ده او که چا د ډېرې اوږدې مودې لپاره کړې وي څکه غلطه ده، چې دا ډول درملنه د اوږد مهالې ناروغی لپاره نده.

د بېلګې په توګه: په پورتني موډل کې که مونږ په يو مسـتطيل کې يو مثبت تغير راولو دغه مثبت تغير په نورو مسـتطيلونو باندې چې په دغه دايره کې موجود دي اغېزه کوي.

د دې لپاره چې وکولی شو خپل خپګان کم کړو نو دا ټکي بايد پام کې ونيسو.
لومـړی بايد زده کـړو، چـې ژور خپګان څه دی، څنګه رامنځته کېـږي او ولـې رامنځته کېږي؟ چې دا مو په پورتنيو معلوماتو کې ومونډل، بيا پوه شـــوو، چې څنګه کولی شو خپل خپګان ورسره کم کړو؟ او بيا مو هغه څه هم زده کړل، چې په خپل ورځنـي ژوند کـې يـې څنګه عملـي کـړو او څنګه له خپل ژوند څخه د خپګان په ځای خوند واخلو؟

بل قدم کې بايد خپل چال چلند بدل کـړو، لکه څـرنګه چـې په موډل کـې دي، څکه د هر څه په وړاندې زمونږ چال چلند په ټولې حلقې اغېـزه اچوي. څکه خپل چال چلند بدلول د افکارو له بدلون سره سمون خوري او افکار بدلوي.

څکه د خپګان په رنځ اخته کســـان هغه کارونه نه کوي کوم چې د دوی روغتيا لپاره ګټور دي، نو څکه يو پلان جوړول چـې څـرنګه خپل چال چلند د حالاتو په وړاندې بدل کړو او يو مهالوېش څانته جوړ کړو. مهمه برخه يې د ځان پاملرنه او ورځنی مهالوېش دی.

که دغه پروسـه پيل شـي، نو په نورو هم اغېزه کوي، کله چې په ژور خپګان کې فعاليت کم کړو، لکه سپورټ يا خپل دوستان نه ليدل او يا په انزوا کې اوسېدل له دې څخه مخنيوی کوو. مهمه دا ده، چې له خپل ځان څخه يې پيل کـړو، د خپل خوراک او خوب خيال وساتو، د خپلې خوښې لوبه تر سره کړو او ګلدوزي، رسامي او نور د خپلې خوښې فعاليتونه وکړو.

## څرنګه خپل چال چلند بدلولی شو؟

په خپل چال چلند کې يو يا دوه موضوعات خوښ کړئ، چې مشـخص، واقعي او په مهالوېش برابر وي.

مثلاً هرسهار منظم اوسېدل، سپورټ کول او ورځني کارونه د مهالوېش له مخې په مخ بيول، په وخت ډوډی خوړل او داسې نور عام ورځني کارونه.

که تاسې خپل مهالوېش سرته ورسوئ، نو تاسې به د بريا او خوشحالی احسـاس وکړئ او که سرته ونه رسېږي نو تاسې قهر، پښيماني او غضـب سره مخ کيږئ، نو دې کې تاسو کوم يو خوښوئ؟

هر څوک کولی شي، چې په منفي افکارو کې ښکېل شي، خو کله چې له خپګان سره مخ شي ياد منفي افکار پرې غلبه کوي او همدا منفي افکار دي، چې خپګان پرمختللی کوي او دا افکار په هر چا کې توپير کوي، خو مشـخص ګډ خواص يې دا دي، چې دوی د ځان په هکله منفي خيال لري او په خپلې پياوړتيا شک کوي.

حال دا چې دوی به په خپل کار کې بريالي وي او نورو ته يو پياوړی شـــخص ښکاري.

يا هم ځيني د نورو په هکله منفي فکر لري او د ژوند هر اړخ ورته منفي ښـکاري.

همدارنګه د راتلونکي په اړه منفي فکر لري او داسې کسان، چې سملاسي منفي افکارو کې ښوخت وي تمرکز هم په هره منفي خبره کوي.

د دغه افکارو د له منځه وړلو لپاره بايد دا کلمې وکارول شـي، لکه وويل شـي زه بايد دا کار په ښـه توګه پر مخ بوځم، زه بايد خپل خوب سـم کړم، زه بايد کتاب ولولم، زه بايد په دغه وخت کې تعليم وکړم او نور کارونه سر ته ورسوم. د ځان په هکله منفي خبـرې بندې کـړئ او خپلو منفـي افکارو لپاره يو روحـي فلتـر جوړ کړئ.

مثلاً کله چې ستاسې فکر منفي اړخ ته ځي تاسې پدی فکر وکړئ، چې څه سبب شو؟ او د خپلو احساساتو هغه پروسه ځان سره وسنجوئ او پوه شئ چې څه سبب شو داسې حالت تاسو ته راپېښ شو.

څرنګه په خپلو منفي افکارو غالبېدای شـــــو؟ په دې فکر وکړو، چې که زه يوه منفي خبره وکړم، نو هغه څوک به چې زه ور باندې ډېر ګران يم څه نظر لري؟

که زړه ته را نبږدې يو کس زما په حالت کې وای نو ما به هغه ته څه ويل؟

آيا په دې موقع کې همدا منفي فکر ښـه دی او که کومه بله مثبته لاره هم لري؟ نتيجه به يې څه وي؟ آيا زه دا فکر له حقيقت سره پرتله کوم؟ کيدای شي حقيقت بل څه وي؟ زه کوم شواهد لرم چې دغه فکر پرې ثابت کړم؟

او کوم شواهد لرم، چې زما دغه فکر منفي کوي، يا يې غلط ثابتوي؟

که زما په هکله يو څوک په حقيقت باور کوي، نو د هغه عکس العمل به دې فکر ســـره څرنګه وي؟ آيا دا څه چې زه فکر کوم حقيقت لري؟ که لري نو د حقيقت لپاره ثبوت ولې نشته؟ آيا زه يو عمومي فکر کوم او دا وايم چې کيدای شي داسې خبره تېره شوې وي، څومره زه په رينښتينوالي باور لرم؟ څو ځله دغه فکر ماته يو ډول ځواب راکړی دی؟ هرځل چې زه يو منفي فکر تکرار کړم د مقابل شـخص عکس العمل ثابت وي يا مختلف؟

ښه فکر او مثبت فکر خپل عادت وګرځوو، څنګه؟

هر کله خپل منفي فکر د يو مثبت او اغېزمند فکر سره تبادله کړو، دا وخت نيسـي خو ناشونې نه ده. پدې بايد تمرين وشي، چې څومره زيات تمرين وکړئ هغومره بريالي ياست. همدارنګه د ستونزو د حل لارې لپاره تاسـې کولی شـــی نورې مثبتې د حل لارې ولټوئ او په خپګان غالب شئ.

تل بايد د خپل خپګان په هکله خبرې وکړئ يا ډاکټر ته لاړ شـئ، که خبرې ونه کړئ سـتاسـې وضـعيت نور هم کړکېچن کېږي، که کورنی کې مو څوک په خپګان اخته وي مرسـته ورسـره وکړئ، خبرې وکړئ ورته ډاډ ورکړئ، چې هر څه به سم شي. يوه لاره چې اکثراً ډاکټران يې مذهبي ټولنو کې توصيه کوي دعا او عبادت دي د طبيعت او د خلقت نظاره ده، چې انسـان ته ډېر قوت وربښــي او راتلونکې ته يې اميد ورکوي، کله کله سهار وختي لمرخاته ته ځير شـئ، چې څه حکمت پکې دی، د لمر ناسـتې ســره يې توپير څه دی، نتيجه به دا وي چې الله تعالی پرته له هر شـک او ترديد څخه پر خپلو بنده ګانو او حالاتو په پوره اخلاص خپل پام ساتي او زه هم هيڅ کله د الله تعالی له پام څخه نه پرېوزم.

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا الإسراء - الآية ٧٠

# کرامت انسانی

محمد موسی اواب

**پیوسته با گذشته.....**

## مبحث سوم ـ ویژه گیهای کرامت انساني:

از اینکه ارزش کرامت به معنای منافع مستلزم با زندگي، استقرار و رفاهیت انسان میباشد، و آن هم ذریعه وحی الهی تقرر یابد، به مثابه یک قانون و سنت تکویني برای زندگي انسان به گونه یک انسان کامل میگردد، و به موجب همین کرامت انساني انسان در اختیار کردن مستوای التزام به آن آزاد است.

### ۱ ـ ربط کرامت انساني:

چنانچه در مباحث گذشته یادآور شدم کرامت انسانی به صورت عموم مرتبط به ذات انسان است. به قوم، رنگ، زبان، وطن، قد و قامت، قیافه، موقف های سیاسی و اجتماعی کدام ربط ندارد، ولی کرامت شخصی هر انسان مرتبط به اینست که انسان چقدر توانسته است که کرامت دیگران را به دیده قدر نگریسته و حفظ کرده است.

### ۲ـ کرامت وجودي انساني یک داد الهی برای انسان است:

در این کرامت به جزء خود الله سبحانه وتعالی کسی دیگر دخالت ندارد، بناء هیچ کسی هم حق کاستن، گرفتن و دست درازی به آن را ندارد، زیرا که این حق الله سبحانه وتعالی است و هر گونه تجاوز بر آن تجاوز بر حق الله سبحانه وتعالی شمرده میشود. به همین ملحوظ زمانی که انسان مرتکب کدام جرم میشود طبق مقررات قانون الهی با حفظ کرامت انساني اش مجازات میشود، و زماني که جزایش خاتمه یابد به گونه یک انسان طبیعي با تمام کرامتش وارد جامعه میشود، البته جرم که به سبب آن مجازات شده است از کرامت انسانی اش چیزی را کم و کاست نمی کند. بر عکس اگر خود انسان به منظور اینکه از گناه و مؤاخده اخروی نجات یابد به مجازات شرعی حاضر شود کرامتش بر افزوده میشود.

## ۳ـ ارزش کرامت انساني وجودی است:

به مجرد که انسان پا بر عرصه زندگی میگذارد، بلکه هنگامیکه در رحم مادر روح در آن دمیده میشود، صاحب کرامت انسانی میشود. زیرا از همین جاست که مکلفیت های والدین در قبال وی شروع میشود، یعنی جنین مستحق رعایت طبی، تغذیه مناسب، حقوق مالی و قانونی و غیره میشود، و همین کرامت با وی تا به وفات ادامه می یابد، چون جسدش شسته شده خوشبو شده کفن شده، و با اشتراک تعداد غفیر از مسلمانها دفن میشود.

## ۴ ـ انسان به گونه یک مدیر:

انسان به گونه مدیر، مستثمر، و سید موجودات و موارد کون و مکان تعیین شده است، الله سبحانه و تعالی فرموده است "أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً " [لقمان: ۲۰] ترجمه: آیا ندیده اید که یقینا الله برای شما مسخر ساخته است آنچه را که در آسمانها و زمین است و تمام ساخته است بالای شما نعمت هایش را به گونه ظاهری و باطنی . فرموده است: "أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مَالِكُونَ * وَذَلَّلْنَاهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ وَمِنْهَا يَأْكُلُونَ * وَلَهُمْ فِيهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ أَفَلَا يَشْكُرُونَ " [یس: ۷۱ـ۷۳] ترجمه: آیا ندیده اند که به یقین ما برایشان آفریده ایم از آنچه که کرده است دستهای ما چهارپایان را پس ایشان مالکان آن اند .

از همین جا بر انسان لازم است که در کنجکاوی و بحث از اسرار مکونات کون جد وجهد اعظمی نماید، تا بتواند به بهترین شیوه ممکن استثمار نماید.

## ۵ـ ارزش کرامت انسانی به تعداد از اعتبارات حاکمه استناد می ورزد:

مهمترین آن اینست که زمان موجودیتش در دنیا محدود است، که اغلبیت آن کمتر از صد سال است، که بعد از سن چهل سالگی رو به ناتوانی میکند، این عمر محدود توأم با وظیفه گرانبار است که عبارت از آبادانی زمین و دقت حساب در آخرت است.

## ۶ـ ارزش مرکزی کلی بزرگ:

فروعات آن شمار از ارزشهای است که حقوق خالص انسان شمرده میشود.

- حق حریت
- حق احترام
- حق مساوات
- حق عدالت
- حق تملک
- حق تزکیه

حق اتصال مباشر و بدون وسیط به الله سبحانه وتعالی که مالک و حاکم کون است.

## ۷ـ تکریم شامل به انسان:

در زیبائي چهره اش، در عقل کامل اش، فرصت تزکیه ذاتی، و تکریم معنوی که سجده ملائکه ها بوده، و تکریم مادی انسان که عبارت از مسخر شدن تمام کون و وظیفه بزرگ که به آن مکلف شده است.

بزرگی وظیفه دلالت به بزرگی مکلف بها میکند، و به این دلالت میکند که الله سبحانه و تعالی بالای انسان اعتبار کرده است که توانائی آباداني زمین، توانائی هدایت شدن، توانائي استقامت، و انجام دادن فعل و انجاز حکم را دارد.

## ۸ـ ارزش مؤثق و محفوظ:

در کتاب الله به تمام نسل های آینده که تا به روز قیامت آمدني هستند گفته شده است: "وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً " ۳۰\۲ در این آیة تکریم کلي انسان صورت گرفته است، که عبارت از خلیفه شدن و مامور شدن به آباداني زمین است، به این معنی که این ماموریت در تمام زمانه ها بخاطر بقای حیات انسان تا به پایان رسیدن زندگي و بر پا شدن قیامت ماموریت تمام انسانها نهفته است. یک کمک فنی توجیهي جهت نگهداری ارزش والا: از اینکه نسیان، طغیان، و زیغ در فطرت انسان گنجانیده شده است، انسان به تذکیر پی در پی ضرورت دارد، پس جهت ضبط و ترشید و بهتر و زیبا شدن زندگی اولي انسان رسالت های سه گانه آسماني پی در پی آمده است: " إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ وَأَوْحَيْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَعِيسَى وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَارُونَ وَسُلَيْمَانَ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا " [النساء\۱۶۳] ترجمه: به یقین ما وحی کردیم به خودت چنانچه وحی کرده بودیم به نوح و به انبیاء بعد از او و وحی کردیم به ابراهیم و اسماعیل و اسحق و یعقوب و به اولاده (اولاده که از نسل یعقوب اند) و به عیسی و ایوب و یونس و هارون و سلیمان و به داود زبور دادیم.





# انساني ارزښتونه

پوهنیار سید اصغر هاشمي

د نړۍ ټول انسانان دوه ډوله جوړښتونه لري، یویې فزیکي او بل یې معنوي جوړښت دی. په فزیکي لحاظ اکثره انسانان په ټول پوره وي، خو په معنوي لحاظ کامل انسانان کم پیدا کېږي. چېرته چې پوهه زیاته وي، هلته معنویاتو ته زیات ارزښت ورکول کېږي او چېرته چې پوهه کمه وي هلته بیا د معنویاتو پرځای نورو شیانو ته ارزښت ورکول کېږي.

ترڅو چې د پوهې قیمت لوړ نه شي او اکثره وګړي مو د علم او پوهې پر ګانه سمبال نشي، د معنویاتو ارزښت ته به د ارزښت په سترګو ونه ګورو.

په حیواناتو کې شیدې لرونکي څاروي له هغو څارویو بهتره دي، چې خلک ورنه ګټه نشي تر لاسه کولای، دلته د انسانانو په ډول په حیواناتو کې هم توپیر لیدل کېږي. په نباتاتو کې مېوه دارې ونې مو د هغو خلکو په شان دي چې پوهه لري او هر وخت د ځان پر ځای د عوامو په فکر کې وي.

په ټولې نړۍ کې په هغو انسانانو شمار کېږي، چې پوهه لري او هغه انسانان چې پوهه نه لري، د هغو بې مېوو ونو په شان دي، چې له لرګیو یې استفاده کېدای شي، خونور تش کالبوتونه دي. یو د انسان جسمي کار دی، چې د بیروني جوړښت او جسم سره کار لري او بل د انسان فکري کار دی. فکري کار له جسمي کاره څو مرتبې غوره دی، که یو دهقان د غنمو کرلو لپاره ځمکه اړوي او یا داسې نور جسماني کارونه کوي او همدارنګه د پوهنتون استاد شاګردانو ته درس ورکوي او هر وخت په فکري او ذهني کارونو بوخت وي، دا دواړه کارونه دي، خو د دهقان له کاره د استاد کارغوره دی.

ټولې دنیا کې له جسمي کارونو فکري کارونو ته برتري ورکول کېږي.

نړۍ‌نن فکري یرغلونه پیل کړي دي او غواړي، چې په ټولې نړۍ د فکر په واسطه مشري وکړي، دوی پوه شوي، چې د جسمي یرغلونو پرځای فکري جنګونه کوي.

د انسان قدر او عزت باید د هغه د معنویاتو، پوهې او اخلاقو په نظر کې نیولو سره وکړو، نه په نورو لاملونو.

اکثره عوام مو د بدو خلکو عزت کوي، چې دا په دې دلالت کوي، چې دوی ښه خلک نه دي. د ظالم ملګرتیا کوي، هر ځای یې صفتونه کوي، چې دا یې د وېرې یولامل دی.

انسان کې چې انسانیت نه وي او په حقیقي پوهې سمبال نه وي، د تش کالبود په شان دی، د انسان انسانیت په نظر کې ونیسئ، چې له معنویاتو سره مستقیمه اړیکه لري نه مال، دولت، موقف، قومیت، خپلوي، نژادي، سمتي او داسې نورې اړیکې. د انسان په نوم ټول خلک پېژندل کېږي او هر چاته د انسان په نوم غږ کوو، خو د انسانیت او شرافت ځانګړنې په ډېرو کمو کسانو کې موندل کېږي.

عبدالرحمن بابا وایي:

انسانیت څه په دولت نه دی رحمانه
بت که جوړ کړې د سرو زرو انسان نه دی

په ساختماني لحاظ د سرو زرو له بته د انسان قیمت کم دی، خو که د معنا په لحاظ انسان پوره وي، د نړۍ هېڅ شي سره یې قیمت نه شو برابرولی.

ځینې انسانان لوړ قیمت لري او په کلونو کلونو یې نومونه تلپاتې وي، خو د ځینو انسانانو قیمت دومره کمه وي، چې په ژوندون او له مرګه وروسته یې هم ارزښت کم وي. په نړۍ کې د ورځې بې شمېره انسانان مره کېږي، چې له مرګه څو ورځې وروسته د خلکو هېر وي، یو دلیل یې دا دی چې دوی په معنوي لحاظ د ټولنې پیاوړي انسانان نه وو، خو که چېرې استاد الفت په نظر کې ونیسو، له لسګونو کلونو وروسته هم د خلکو په زړونو کې خاص ځای لري، چې دلیل یې د استاد معنوي ارزښت پورې اړه لري.



# سره میاشت

# المان ته کوم ناروغان لېږي؟

افغاني سره میاشت د هېواد یوازینی بشرپال مرستندوی بنسټ دی، چې په وړیا توګه په ټول هېواد کې روغتیايي خدمات ترسره وي او په لرې پرتو سیمو کې د روغتیاساتنې په موخه عامه پوهاوی ورکوي. افغاني سره میاشت هر کال په ټول هېواد کې په خپلو روغتیايي مرکزونو او لرې پرتو سیمو کې له ۵ میلونو د ډېرو هېوادوالو روغتیايي خدمت کوي او د روغتیاساتنې په اړه عامه پوهاوی ورکوي.

افغاني سره میاشت په هېواد کې دننه د ناروغانو پر درملنه سربېره یو شمېر ناروغانو ته له هېواد دباندې په آلمان هېواد کې د درملنې لار هواروي.

**المان ته د ناروغانو لېږل:**

د افغاني سرې میاشتې او "د المان د سولې کلي" په نوم د نادولتي مرستندوی بنسټ تر منځ په ۱۳۶۸ لمریز کال کې یو هوکړه لیک لاسلیک شو، چې له مخې یې د المان د سولې کلي مرستندوی بنسټ د المان هېواد په ابرهوزن ښار کې هغه ناروغ افغان ماشومان تداوي کوي، چې په اور سخت سوځېدلي وي او یا د هډوکو مکروبي ناروغي ولري. د هوکړه لیک پر بنسټ هر کال دوه ځل د المان د سولې کلي مرستندوی بنسټ له لوري افغانستان ته د یاد بنسټ روغتیاپال راځي او په خپله د یادو ناروغانو تشخیص او کتنه کوي. د یاد هوکړه لیک له مخې المان ته په وړل کیدونکو ماشومانو کې یوازې هغه ماشومان شامل دي، چې عمرونه یې له ۱ کلنۍ څخه تر ۱۱ کلنۍ پورې وي.

په کومو ناروغیو اخته ماشومان د درملنې لپاره لېږل کېږي؟

**د هډوکي بدبويي:(Chronic Osteomyelitis)**

دا هغه ناروغي ده، چې هډوکی اوبه او بدبوی کوي. دا ناروغي په درملو له منځه نه ځي، بلکې اړینه ده عملیات شي او له کاره لویدلی هډوکی پرې شي. ددې ناروغۍ په نښو کې د هډوکو درد، تبه او زکام، ډېره خوله، عمومي ناراحتي، بې خوبي او ناروغ احساس، سوروالی او تودوخه، خلاص زخم او په ساحه کې درد شامل دي.

**د هډوکي نازکوالی:(Osteoporosis)**

دا یوه ناروغي ده، چې هډوکي کمزوري کوي. دا ناروغي هیڅ څرګندې نښې نه لري، ځکه ډېرې وګړي نه پوهېږي، چې دوی د اوستیوپوروسس ناروغي لري. ددې ناروغۍ له امله هډوکی په خپله د ماتېدو لوري ته روان وي. ددې ناروغۍ نښې د ناروغۍ په وروستیو پړاوونو کې څرګندیږي، خو په تدریجي ډول د قد له لاسه ورکول یې یوه نښه ده.

**د هډوکي تخريب:**(Pathologic Fracture)

دغه ناروغي د هډوکي د کمزورۍ له امله رامنځ ته کېږي، چې له امله يې هډوکی پرلپسې تخريبيږي او کله خو هډوکی دومره کمزوری شي، چې له ټوخي، ټيټېدو او يا له موټره د ښکته کېدو له امله هم ماتيږي. دا ناروغي کومې ځانګړې نښې نه لري.

**سخته سوځېدنه:**(Burn Injuries with Joint Fusion)

دا په اور د سختې سوځېدنې ناروغي يا حالت دی.

**د مصنوعي مقعد جراحي:**(Colostomy)

دغه جراحي عمليات هغه ناروغ ته ترسره کېږي، چې کله يې د لويې کولمې مقعد برخه ستونزه ولري او کولمې په نورمال ډول کار نشـــي کولی. ددې ناروغۍ له امله په غټو متيازو کې وينه ليدل کېږي، معده سخت درد کوي يا د معدې لاندې درد وي او دوامدار اسهال يا قبض شتون لري.

**له جنين دباندې مثانه:**(Bladder Exstrophy)

دا له جنين څخه دباندې د مثانې د ودې ناروغي ده. په دې حالت کې مثانه په نورمال ډول وده نه کوي.

**د ناروغ د منلو شرايط:**

۱- ناروغ به خامخا اصلي تذکره لري.

۲- د ناروغ عمر به له ۱ کلنۍ څخه تر ۱۱ کلنۍ پورې وي.

۳- ناروغ به خامخا مور او پلار يا ولي لري.

۴- ناروغ به له هغو ناروغيو يوه لري، چې په دې معلوماتي پاڼه کې ليکل شوې.

۵- ناروغ به له لومړي سره له ځان سره ۱۰ عدده انځورونه لري.

**په هوکړه ليک کې په نښه شوې وجيبې:**

د افغاني سرې مياشتې او د المان د سولې کلي مرستندوی بنســـټ ترمنځ د شوي هوکړه ليک پر بنسټ افغاني سره مياشت افغانستان ته د المان د سولې کلي د مرستندوی بنســـټ د روغتياپالو له راتګ وړاندې په ټول هېواد کې د رسـنيو له لارې هغه ناروغان پر ټاکلې نېټه راغواړي، چې په اور ســخت ســوځېدلي وي، د هډوکو ناروغي ولري او يا يې هډوکي مات وي. په دويم قدم کې هغو ناروغو ماشومانو ته د پاسپورت او ويزې ټولې اسـانتياوې چمتو کوي او لګښــــت يې پر غاړه لري، چې د المان د سولې کلي د مرستندوی بنسټ د روغتياپالو له لوري المان ته د درملنې د وړلو لپاره وړ ګڼل شوي وي.

د هوکړه ليک له مخې د المان د سولې کلي مرستندوی بنسټ به هر کال دوه ځل کابل ته خپل روغتياپال رالېـــــږي او المان ته د وړلو لپاره به د ناروغو ماشومانو تشـــــخيص او معاينه کوي، المان هېواد ته د الوتکې په واسطه د ناروغو ماشومانو د تګ راتګ لګښت به تاديه کوي، په المان کې د درملنې په موده کې به د خوراک او پوښاک لګښـــت پر غاړه لري او په المان کې به يې درملنه کوي.

**له المانه له راګرځېدو وروسته:**

ياد ناروغ ماشـــومان په المان هېواد کې ۶ مياشـــتې تر درملنې لاندې نيول کېږي، خو که اړتيا وي، نو د ناروغ تر بشـــپړ رغېدو پورې يې په المان کې د پاتې کېدو موده اوږدېږي او بيا هېواد ته راوړل کېږي. هېواد ته له راســـتنېدو وروســـته تر دوه کلونو د دوی مراقبت کېږي او په دوه کلونو کې د دوی د ناروغۍ لپاره اړين درمل تهيه کېږي. تـر څنګ يـې دوی ته د خوښ ژوند په موخه د لوبو توکي ورکول کېږي.

**تر اوسه څومره ناروغان المان ته لېږل شوي؟**

د المان د سولې کلي له نادولتي مرستندوی بنســــټ سره د افغاني سرې مياشتې د کړې هوکړه ليک له لاسليک وروسـته په تېرو ۳۴ کلونو کې المان ته ۹۰ ډلې ماشومان لېږل شوي، چې ټولټال شاوخوا ۴۹۲۰ ماشومان کېږي. ياد ناروغ ماشومان له درملنې وروسته بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي.






# خدمات بشردوستانه در تاریخ اسلام

عبدالسعید

**پیوسته با گذشته.....**

در تاریخ اسلام بر علاوه انسانها برای حیوانات نیز خدمات صورت گرفته است که در اینجا نمونه از آن را یاد آور میشویم.

**اوقاف برای حیوانات:**

در دمشق یک میدان وسیع که سرسبز و شاداب بود فقط برای حیوانات مسن و پایمانده وقف شده بود تا در آنجا بچرند، که فعلا میدان مذکور به میدان بازی تبدیل شده است. این چنین در دمشق جای برای پشک ها وقف شده بود تا در آنجا بود و باش کنند، که از هر نوع غذا ها برای آنها آورده میشد.

صحابی جلیل القدر ابو درداء از حیوان مریضش معذرت خواهی کرده میگفت "که فردا روز قیامت به نزد پروردگارت از من شکایت نکنی، که من بالای خودت بالاتر از توانت بار کرده باشم ". این نمایانگر شناسائي حقوق حیوانات است، یعنی حیوان حق دارد که بالاتر از توانش حمل کرده نشود.

صحابی جلیل القدر مانند عدی ابن حاتم به مورچه ها نان ریزه کرده میگفت: "اینها همسایه های من اند و بالای ما حق دارند " وامام بزرگ مانند ابی اسحق شیرازی در مسیر راهش سگ واقع میشود، رفیق راهش سگ را سرزنش کرد، امام وی را منع کرده گفت: "آیا نمی دانی که راه میان ما و همه حیوانات مشترک است ".

**مؤسسات خیرية تربیوی:**

صلاح الدین ایوبی تمام اموالش را در امور خیریه صرف نموده است، در بلاد شام ومصر به صدها مسجد، مدرسه، مراکز تربیوی ساخته و قابل توجه اینست که هیچکدام آنرا به نام خود مسمی نکرده است بلکه همه را به نامهای فرماندهان، وزراء، و اعوان خود مسمی نموده است. در مراکز تربیوی مسلمانان به قطع نظر از جنس، زبان، کشور و مذهب شاگرد پذیرفته میشد.

**مراکز خدمات صحی:**

اولین شفاخانه که به منظور خدمات صحی در صدر اسلام بنیان گذاری شده است عبارت از یک خیمه بود که جهت تداوی سعد بن معاذ رضی الله عنه به فرمان رسول الله صلی الله علیه وسلم ترتیب شد تا خود رسول الله صلی الله علیه وسلم از وی خبر گیری نماید.

آنعده خدمات صحی یی که در تاریخ اسلام انجام شده است در هیچ تاریخ دیگر بشـــــــریت، وجود ندارد. در آن زمان با وجود اینکه تکنالوژي آنقدر پیشـــــرفته نبود ولی شفاخانه ها بالاتر از امکانات که در آنوقت موجود بود خدمات نموده اند. در زمان سلطان محمود سلجوقي چهل شفاخانه سیار فعالیت داشت در حالیکه تنها در قرطبه پنجاه شفاخانه ثابت تأسیس شده بود. وزیر وقت عیســی بن علی الجراح به سنان بن ثابت رئیس شفاخانه ها فرمان داد که طبیبان را مؤظف نموده تا به قریه های دور دست عراق با دواء و لوازم طبی رفته مریضــــان را تداوی کنند. بر علاوه شفاخانه های ثابت وســیار ملوک، شــفاخانه های خاص داشــتند و برای امراء و نظامیان نیز شفاخانه های خاص تأسیس شده بود.حتی در بغداد برای محبوسین نیز اطباء جداگانه ارسال میشد.

المقریزی میگوید: ابن طولون در جوار جامع مشهورش در مصر معاینه خانه و دوا خانه را ایجاد کرد تا در روز های جمعه طبیب نماز گذاران مــریض را طور رایگان تداوی کند.

بخش های جدا گانه اناث و ذکور در شفاخانه ها نیز موجود بود و این چنین به امراض گوناگون بخش های جدا گانه ایجاد شــده بود. در ســال ۳۹۱ هجری در زمان خلیفه المقدر بناء بـر تخطی بعض از اطباء، مـریض وفات نمود پس خلیفه فرمان صادر کرد، که تمام اطباء دوباره ارزیابی کرده شوند. ترتیب وتنظیم شفاخانه ها و حفظ الصحه بالاتر از تصور بود، هر مریض بعد از معاینات اولیه به حمام فرستاده میشد ولباس خاص شفاخانه برایش داده میشــد، و غذاهای متنوع برایش داده میشد. در شفاخانه ها بر علاوه تداوی تدریب شــاگردان طب(شــبیه ســتاژ) نیز صــورت میگرفت و این درحالیکه شفاخانه ها از کتابخانه ها نیز غنی بودند.

## مشهور ترین شفاخانه ها:

۱ــ مستشفی العضدی در بغداد ۳۷۱هـ .

۲ــ شفاخانه النوری الکبیر در دمشق ۵۴۹هـ

۳ــ شفاخانه المنصوری الکبیر ۶۸۳هـ به بیمارستان قلاوون مشهور بود.

۴ــ شفاخانه مراکش امیرالمؤمنین المنصور ابویوسف.

## خدمات علمی و ثقافتی:

کتابخانه های عامه و خاصه در نقاط مختلف تأسیس شده بود، دربازه آن به روی همه باز بود، جاهای مخصـوص برای مطالعه کننده گان و نویســنده گان و غیره کارکنان کتابخانه تأسیس شــده بود. بعض از کتابخانه ها طور بود که نویسنده گی در طول شبانه روز برای یک ساعت هم توقف نمیکرد، طبق تقسیم اوقات برخی از نویسنده گان از طرف روز وبرخی از طرف شب مصروف نوشتن میشدند.

## کتابخانه های مشهور:

مکتبة الخلفاء الفاطمیین در قاهره، دو ملیون جلد کتاب داشت.

مکتبة دار الحکمة در قاهره .

مکتبة بیت الحکمة در بغداد .

مکتبة الحکم در اندلس چهارصدهزار جلد کتاب داشت.

مکتبة بنی عمار در طرابلس.

## وقفها:

وقفها نیز نوع دیگر از خدمات آن عصـــــر بود، که از طرف وقف کننده در خدمت عام مردم قرار میگرفت، چند نمونه آن در اینجا تذکر یافته است.

۱ ــ وقف عمر: عمر رضـــی الله عنه در خیبر یک قطعه زمین خرید، و آنرا به اجازه رسول الله صلی الله علیه وسلم برای عام مســـلمانان وقف نمود، که اصل آن در اختیار واقف بوده و حاصلاتش را برای عام مردم وقف کرده بود.

۲ ــ وقف عثمان رضی الله عنه: عثمان در مدینه منوره چاه معونة را به چهار صد درهم خریده و برای عام مردم وقف نمود.

۳ــ وقف زیورات برای عروس ها: اگر کسی در مراسم عروسی اش لباس و یا زیورات نمیداشت، از همین وقف استفاده مینمود.

۴ ــ وقف برای تأنیس مریضـــان و بی کســان: اشخاص با تجربه وتعلیم یافته جهت تأنیس مریضان وقف شده بودند تا با خواندن اشعار وقصــه ها روان مریضان را شاد کنند.

۵ ــ وقف ایحاء شفاء برای مریضــــــان: این یکنوع تداوي روانی برای مریضــــــان بود طوریکه اشخاص تربیه شده و با تجربه از نزد مریض میگذشتند، و میان هم بدون اینکه مریض را مخاطب قرار دهند طور سخن میگفتند که مریض بشنود، آنها میان هم صحبت کرده میگفتند که طبیبان در مورد این مریض نظر داده اند که بعد از مدت کم صحت یاب میشود. و به این شیوه مورال مریض را بلند میکردند و آرامش ذهنی برایش میبخشیدند.

۶ ــ وقف اجوره حمام: توجه به صـــــفائي و نظافت به قدر بود که برای اشخاصیکه توان پرداخت اجوره حمام را نداشتند از بودجه وقف شده برایش اجوره حمام پرداخته میشد تا نباشد که در جامعه کســی باشد که به دلیل فقر نظافت خود را مراعات نکرده باشد.

این مثالها نمایانگر اینســت که در تاریخ اسلام در تمام ابعاد زندگی خدمات صورت گرفته است و دین مقدس اسلام یک دین کامل است که ســینه اش جهت خدمات در برابر تمام بشــریت باز است، طوریکه رب ما رب العالمین اســت و پیامبر ما رحمة للعالمین اســت، دین ما هم دین عالمی و همگانی است. ولله الحمد والمنة



# د زړه عدم کفایه (پاتې والی)

د. فضل الرحیم مایار

کله چې زړه د ساختماني او یا وظیفوي مشکل له کبله ونشي کولای، چې په پوره توګه انساجو ته وینه ورسوي د زړه د پاتې والي او عدم کفایې په نامه یادېږي. په ځانګړې توګه دا ستونزه هغه وخت وده کوي، چې د زړه بطینات ونه توانېږي، چې انساجو ته وینه په سمه توګه پمپ کړي او وینه کېدای شي په لاندې اعضاوو کې راټوله شي.

۱ ــ سږي

۲ــ بطن

۳ــ ینه

۴ــ لاندیني اطراف

**پېښې:**

څرنګه چې د زړه عدم کفایه ورځ تربلې زیاتېدونکې آفت دی، نو له دې کبله د نړۍ نږدې ۲۰ملیونه خلک د زړه عدم کفایه لري.

همدارنګه د پرمختللي نړۍ کابو ۲٪ بوډاګان د زړه عدم کفایه لري.

دا مرض په ابتدايي شکل د سن لوړېدلو مرض دی. ۷۵٪ پېښې یې له ۶۵ کلونو څخه په لوړ سن کې وي، خو کېدای شي په هر سن کې پېښ شي.

۷۵٪ ناورغان یې مخکې له مخکې د وینې لوړ فشار لري.

نژاد: په افریقایي الاصل، اسپانیایي او بومي امریکایانو کې د لوړ فشار درلودلو له امله زیات لیدل کېږي.

مړینه: له درملنې سره سره کېدای شي ۵۰٪ ناروغان د وخت په تېرېدو مړه شي.

په داخل بستر ناروغانو کې د مرګ او مړینې پېښې له ۵٪ څخه تر ۲۰٪ پورې دي.

د زړه عدم کفایې خپربدل په نارینه و کې د ښځینه و په پرتله ډېره ده.

**د زړه د عدم کفایې ډولونه:**

د زړه عدم کفایه د طب له لحاظه ډېر ډولونه لري، خو دلته یې له مهمو ډولونو څخه یادونه کوو.

**د وخت له لحاظه د زړه عدم کفایې ډولونه:**

ــ حاده عدم کفایه: هغه حالت دی، چې ناروغي شیبه په شیبه یا ورځ تر بلې پرمختګ کوي.

ــ مزمنه عدم کفایه: کله چې د زړه عدم کفایه په تدریجي ډول پرمختګ وکړي، چې ډېرې وخت میاشتې او کلونه نیسي.

**د موقعیت له لحاظه د زړه عدم کفایه:**

۱ ــ د زړه د چپ طرف عدم کفایه: د چپ زړه عدم کفایه ډېره معموله ده او هغه وخت پېښېږي، چې چپ بطین په کافي اندازه وینه له زړه څخه پمپ نشي کړی، چې په نتیجه کې اضافي مایعات په سږو کې پاتې کېږي او د تنفسي ستونزو لامل کېږي.

۲ــ د زړه د ښـــي اړخ عدم کفایه: هر کله چې ښـــي بطین په عدم کفایه اخته شي، نو زیاتره احتقاني اعراض په ناروغ کې موجود وي.

۳ــ د زړه د بطيناتو عدم کفايه.

اسباب: د زړه عدم كفايه له لاندې لاملونو له امله رامنځته کېږي.

## د ويني لوړ فشار:

د وينې لوړ فشـار، چې په زړه مسـتقيم اغېز لري. هر کله چې د وينې فشـار په دوامداره توګه لوړ وي، نو په زړه باندې اضــافي بار وي او کله چې زړه له خپل توان څخه زيات فعاليت وکړي، نو په تدریجي توګه د زړه د غتوالي ســـــبب کېږي.

## د وزن زياتوالی يا چاغښت:

له چاغوالي څخه ډېرې ناروغی را مینځته کېږي، د انســـان وزن باید د هغه د بادۍ په اندول وي، نو کله چې وزن ډېر يعنې انســـان څاربه شي زړه کوښښ کوي، چې د هغه اضـافي وزن برخه وينه هم بادۍ ته پمپ کړي، چې دا په زړه باندې يوه اضافه بار بلل کېږي او د زړه د عدم کفايې سبب ګرځي.

## د زړه د رګونو ناروغي:

د زړه د رګونو ناروغي لکه اتيروســــــكليروزيس، چې د رګونو د تنګوالي باعث کېږي، نو زړه باید له يوې تنګې ســـــــاحې څخه په کافي اندازه وينه د بدن اعضـــاوو ته ورسوي، چې له يو بندش سره مخامخ کېږي، چې بيا هم په زړه باندې د فشــــــار واردېدلو سبب کېږي او په پای کې د زړه د عدم کفايې سبب کېږي.

## د زړه د برقي سيستم خرابوالی:

د زړه په برقي سيســتم کې خرابوالی د دې سبب کېږي، چې زړه په غير نارمل شکل تقلصات وکړي او غیر نارمل تقلصـات په دوامداره توګه د زړه په فعاليت کې خرابی رامنځته کوي، چې د زړه د وظیفوي عدم کفايې سبب کېږي.

## په ارثي شكل:

د زړه ارثي امراض او ناوړه تشکلات هم د زړه فعالیت خرابوي.

## د زړه اسکېمیک ناروغی:

د زړه يوه برخه چې په اسـکېمیا اخته شـــي يعنې د زړه يوې برخې ته وينه ونه رسېږي، نو هغه ساحه بيا خپل فعالیت په سمه توګه نشي تر سره کولای.

## شكره:

د شکرې په ناروغی کې، چې هم محيطي عصبي سيســتم ګډوډ کېږي او هم رګونه يکې خرابيږي، د دې سربېره د زړه تغذيوي سیستم هم خرابېږي.

## د الكولو استعمال:

الکول لکه څنګه چې په ټول بدن بدې اغېـزې لـري، نو زړه هم له دې اغېـزو څخه په امن ندی.

## د زړه ولادي ناروغی:

لکه د زړه سوری کېدل (PDA,ASD,VSD)

## د سږو لوړ فشار:

په سږو کې چې فشار لوړېږي، نو له دې سره مســتقيماً په زړه باندې هم فشـار زيات واردېږي، چې کېدای شي د زړه د غټوالي ســبب شــي او عدم کفايه ترې رامنځته شي.

## كمخوني:

دوامداره کمخوني د دې سبب کېږي، چې زړه باید له خپلې اندازې څخه زيات فعاليت وکړي؛ ترڅو بدن ته کافي وينه او اکســـيجن برابر کړي، چې دغه له حده زيات فعاليت د عدم کفايې سبب کېږي.

## د زړه د عضلې تخريب:

د زړه د عضلې تخريب د زړه د وظيفوي عدم کفايې سبب کېږي.

## د زړه د عضلې التهاب:

## د زړه غير منظم ضربان:

غير منظم ضربان تل د زړه وظيفه خرابوي.

## مزمنې ناروغی لکه ايچ آی وي، د جاغور ناروغی او داسې نور :

ډېرى مزمنې ناروغی په زړه بد اغېز لري.

## حساسيت پارونكي مواد:

په حساسيت کې د زړه ضربان خرابيږی.

## شديد انتانات:

چون په انتاناتو کې تبه موجوده وي او د تبې په موجوديت کې د زړه ضــــربان زياتېږي.

## ځینې دواګانې:

لکه په خپله ډایجوکسین چې کارډیوټوکسیک يعنې زهرجن تاثيرات لري.

## سګرټ :

سګرټ اکثرآ قلبي وعايې او د سږو ناروغی رامنځته کوي.

## روحي فشارونه:

روحي فشـــارونه او رواني تکليفونه تل د زړه په فعالیتونو بدې اغېزې لري. او د زړه د عدم کفايې لامل کېدای شي

## د زړه د عدم كفايې نښې او نښانې:

ــ نفس تنګي: د تنفســـي سيســــتم د بندش له کبله رامنځته کېږي، چې په تدريجي ډول زياتېږي.

ــ مزمن ټوخی: يعنې دوامداره ټوخی .

ــ د شپې له خوا ادرار کولو ته ضرورت.

ــ ناروغ ستړی او ستومانه ښکاري.

ــ پښې او لاسونه يې يخ او ګوتې يې شنې وي .

ــ کېدای شي ناروغ تبه ولري.

ــ ناروغ بې اشتهايي لري.

—ناروغ سرخوږی لري.

—بې خوبي او نارامي.

—خواګرځی او استفراق.

—د بطن په پورتنی برخه کې درد.

—د پښو او لاسونو په ځانګړي ډول د پښو وریدونو د بندش له کبله د پښو او لنګیو پړسوب رامنځته کېږي.

—د غاړې د وریدونو پړسوب .

—د ینې غټوالی چې کېدای شي درد هم ورسره موجود وي.

—په بطن کې د مایعاتو راټولېدنه. چې په نتیجه کې بطن پړسوب پیدا کوي.

—د زړه ضربان زیاتېدل.

## د ناروغۍ په جریان کې عمومي اهتمامات:

د عامل یا سبب تداوی: لکه (اسکیما، د زړه د والونو) درملنه.

د رامنځته کوونکو فکتورونو له منځه وړل: لکه ( کمخوني او سینه بغل).

استراحت: د استراحت په جریان کې ټول بدن ته د وینې رسولو ضرورت کمېږي .

وضعیت: د ناروغ سر باید لوړ وي.

غذایی رژیم: باید په دې شکل جوړ شي، چې مالګه او غوړ یکې کمه استعمال شي. زیاتره د سبزیجاتو څخه استفاده وشي.

سګرټ : سګرټ څکول او الکول باید متوقف شي.

تمرینات: کم او منظم تمرینات ترسره شي، خو په هغه وخت کې، چې اعراض کم وي، مګر که ناروغی پرمختګ کړی وي، نو تمرین باید ترسره نه شي.

روحي تقویه: ناروغ باید په روحي او رواني لحاظ تقویه شي.

## د زړه عدم کفایې وقایه (مخنیوی)

که څه هم ارثي عوامل ددې مرض د رامنځته کېدو ډېری علتونه تشکیلوي. مګر د ژوندانه روش هم د دې ستونزې په کنټرول کې ډېر رول لري. او ډېر داسې شیان شته، چې د دې ستونزې په کموالي کې مرسته کوي، چې په لاندې ډول دي:

—له سګرټو څخه ډډه کول.

—متوازن او ښه غذایي رژیم :باید له سبزیجاتو، میوې او حبوباتو څخه ډېره استفاده وشي او برعکس له ( مالګې، هګۍ، غوړ او بسته بندي شوې ) غذا څخه پرهېز وشي.

—تمرین: په ورځ کې د یو ساعت لپاره ( پلی مزل، بایسکل ځغلونه، لامبو وهل) ډېر ګټور دي.

—د وزن څارنه: چاغښت یا زیات وزن د زړه د روغتیا لپاره مضر تمامېږي، چې باید د غذایي رژیم او تمریناتو په واسطه کنټرول شي.

—له الکولو او نشه یي موادو څخه په کلکه ډډه وشي.

—د روغتیاپال له لوري توصیه شوې درملنه باید جدي ونیول شي او بې توجهي ورته ونه شي.

## په کور کې له ځان څخه څارنه:

—ادرار راوړونکې دواګانې باید د سهار لخوا وخوړل شي؛ ترڅو ناروغ ته د شپې لخوا د تشناب تللو ستونزه جوړه نکړي.

—که چېرته ناروغ ته له نوموړو دواګانو څخه ( استفراغ، زړه بدوالی، ګنګسیت، بی اشتهایي ) او داسې نور اعراض پیدا شي باید معالج روغتیاپال ته خبر ورکړل شي.

—هره ورځ باید ځان وتلل شي او د وزن زیاتوالي په صورت کې روغتیاپال ته خبر ورکړل شي.

—په زینو کې له ختلو او کوزېدلو څخه ډډه وشي.

—له اضطراب یا وېرې څخه مخنیوی وشي، استراحت ډېر وشي.

—د استراحت لپاره باید مناسب وضعیت انتخاب شي، دوه بالښتونه سر ته کېښودل شي؛ ترڅو د مایعاتو له تجمع څخه مخنیوی وشي.

—مناسب او کم تمرینات د ورځې ۱۵-۲۰ دقیقو لپاره اجراء شي.

—غذایي رژیم داسې برابر شي، چې له سودیم لرونکو غذاګانو سره ډېر احتیاط وشي.





# سیلی که هر سال مرگ می آفرید

عزیزاحمد متین

یکی از مهمترین عواملی که جان انسانها و در کل، موجودات زنده را تهدید میکند حوادث طبیعی بخصوص سیلاب هست، سیلاب عبارت از آب فراوانی است که به اثر بارندگی ها ویا آب شدن برف، ناگهان و به سرعت جاری شده و طغیان میکند و قسمتی از خانه های مسکونی و زمینهای زراعتی یی را که در شرایط عادی زیر آب نیست، فرا میگیرد، یا به عبارت دیگر؛ سیل بالا آمدن نسبتاً زیاد آب در یک رودخانه است. سیلاب یک حادثه غیر قابل کنترول و مهلک است که همه ساله باعث مرگ و میر هزاران تن از انسانها میشود. اما اینکه این حادثه طبیعی وخطرناک را چطور کنترول کنیم؟ بیائید از جمعیت هلال احمر افغانی بیاموزیم که در مورد جلوگیری ازین حادثه کشنده چه فعالیتی را انجام داده است.

قریه جنگان در مربوطات ولسوالی غوریان ولایت هرات موقعیت داشته که از نگاه جغرافیایي در معرض سیلاب های مخرب و کشنده قرار دارد و همه ساله شاهد سیلاب ها بوده و برعلاوه آن باشنده های قریه مذکور در نهایت فقر و تنگدستی قرار داشته نه در برابر سیلاب ها کدام چاره داشتند و نه هم نقل مکان کرده میتوانستند، از حسن تقدیر ایشان بود که هلال احمر افغانی که همیشه در فکر دستگیری همچو قریه های نادار میباشد به منطقه مذکور آمده و تمام مشکلات مردم منطقه را تک تک یاداشت نموده و به حل مشکلات ایشان پرداخت.

اولین و مهمترین معضله مردم قریه، سیلاب بود و معضله دیگر که ایشان را تهدید مینمود عبارد از فقر است. هلال احمر افغانی پروژه پول در مقابل کار را روی دست گرفت که با ایجاد این پروژه هلال احمر توانست از یک طرف اقتصاد مردم را بهبودی بخشد و از طرف دیگر ایشانرا از خطرات سیلاب محفوظ سازد.

این برنامه در ۱۳ عقرب ۱۴۰۲ هـش شروع و بعد از ۵۴ روز کاری در ۱۴ جدی ۱۴۰۲ هـش با دستاورد بسیار عالی تکمیل گردید.

هلال احمر افغانی در قریه جنگان پروژه های نهایت ارزشمند را به راه انداخت که الحمد لله با حمایت و همکاری مردم قریه نتیجه خوب و مثمر داشت که میتوان آنرا قرار ذیل یاد آور شوم:

۱ــ کندن کاری و افزایش عرض کانال آب زراعتی.

۲ــ اعمار ۲۲۷ متر دیوار استنادی در لبه بالای کانال آب زراعتی در سمت جنوب قریه.

۳ــ اعمار ۳۵۰ متر دیوار استنادی در سمت شرق قریه.

۴ــ اعمار پلچک به عرض ۴ متر و طول ۵ متر برای تخلیه آب سیل به کانال آب زراعتی.

۵ــ اعمار سربند و تخلیه آب سیل در انتهای کانال آب.

۶ــ پرکاری و تپک کاری حدود ۳،۰۰۰ متر خاک در سمت شمال قریه .

در این برنامه ۱۲۰ تن به حیث استاذ کار و مرد کار مشغول بودند، در مجموع حدود شش ملیون و دوصدهزار افغانی به این پروژه اختصاص داده شده بود که از جمله مبلغ دو ملیون و ششصد هزار افغانی تنها طور اجوره برای کارگران منطقه داده شده است.

**مواد که در این پروژه بکار رفته است عبارتند از:**

۴،۶۴۶ کیسه سمنت، ۱،۳۸۲ متر مکعب سنگ، ۸۲۰ متر مکعب ریگ دریایی، ۲،۳۱۵ کیلو گرام میلگرد و دو دروازه فلزی ۷۰۰ کیلو گرامی. جمعا حدود ۴۹ فیصد پول این برنامه برای کارگران و ۵۱ فیصد صرف مصالح شده است.

با تطبیق این پروژه، قریه جنگان از تهدید سیلاب ها در امن شده و باشندگان قریه مذکور ضمن قدردانی از این فعالیت هلال احمر افغانی چنین اظهار داشتند: "حالا ما در خانه های خود به خیال راحت زندگی میکنیم و در مورد سیلاب هیچ گونه احساس خطر نداریم ".

هلال احمر افغانی بمنظور رشد اقتصاد مرد منطقه برعلاوه پروژه تغییر اقلیم توانست که پروژه های دیگری را در چهار ولسوالی (غوریان، کهسان، رباط سنگی و کشک کهنه) رویکار گرفت. با تطبیق این پروژه ها که عبارت از کسب و کار، تجارت های کوچک و آموختن فنون و حرفه های چون (فلزکاری، نجاری، گلدوزی، خیاطی، عکاسی، گوشی سازی، موتور سازی و....) میباشد، چندین تن از مردم قریه باستانی جنگان نیز در لست همین برنامه ها بودند و توانستند که حرفه های درآمد زا و مفید را بیاموزند. حالا که مردم حرفه های خویش را بکار انداخته اند اقتصاد ایشان به پا ایستاده شده است و دست همکاری به دیگران میدهند. از همین روست که اهالی قریه جات زیادی دیگر جهت حل مشکلات شان به این قریه مراجعه میکنند.

این بود قسمتی از فعالیتهای بشردوستانه هلال احمر افغانی در هرات که امثالش در ولسوالی های مختلف این ولایت وغیره ولایات کشور زیاد میباشد. بناء گفته میتوان که هلال احمر افغانی این شعار خود را جامه عمل پوشانیده است.

هلال احمر افغانی در همه جا برای همه.



# ځان بساینه

هجرت الله میوند

مرسته که لږ وي او که ډېره ځکه ښه وي، چې د بې وزلو ښه پرې کېږي، خو لږه او مقطعي مرسته که هر کله هم وي بیا هم بې وزله په خپله بې وزلۍ کې پاتې کېږي، ځکه هغه لاسته ورغلې مرسته سم لاسـي په خپل بچیو باندې خوري او څو ورځې وروسـته بیا هم حیران ناسـت وي او که دومره مرسـته ورسره وشي، چې د ټول ژوند لپاره یې بسـنه پرې وشي ښه خبره ده، خو دې ډول مرسـتو ته له یوې خوا مرسـتندویان زړه نه ښــه کوي او له بلې خوا په افغانستان کې له کلونو راهیسې روانو جګړو او په دې وروستیو کې د طبیعي پېښو له کبله د بې سرپرسته کورنیو، کونډو او یتیمانو شمېر دومره ډېر شوی، چې عادي مرسته کول هم ستونزمنه خبره ده.

له دې امله افغاني سرې میاشتې هوډ کړی، چې د یادې ستونزې د حل لپاره داسې چارې پر مخ یوسي، چې د اوږدې مودې لپاره حل شـي. په دې موخه یې ګڼې هلې ځلې پیل کړې، چې یوه یې بې وزلو کونډو ته د ملتاني بیـزو او چرګانو وېش ده.

لومړی یې د رښتینو اړمنو د پېژندګلوۍ لپاره سروې پیل کړه، چې له ثبت او سجل وروسته یې د وېش لړۍ پیل کړه.

د اوزو وېش په کندهار ولایت کې د افغاني سـرې میاشـتې د نماینده ګۍ اړوند سـیمه کې سـرته رسـېدلی. د (۴۰۰۰۰۰) د څلور سـوه زرو افغانیو په ارزښت ټولټال (۵۰) بیزې په (۲۵) اړمنو کونډو وویشــل شوې، یعنې هرې بې وزلې کونډې ته دوه ملتانۍ اوزې ورکړل شوې.

ملتانۍ اوزه د انتاج له مخې ځکه ډېره ګټوره ده، چې په کال کې لږ تر لږه دوه درې بچې راوړي او ددې تر څنګ په کافي اندازه شـیدې هم کوي، نو که سـمه روزنه یې وشــي د یوې وړوکې کورنۍ لپاره یوه وړوکې ګټوره پانګه اچونه ده، هغه داسې چې خواړه او لګښــت یې له شیدو څخه لاسته راتلای شي، دا رنګه پچې یې د سون موادو په توګه کارول کېږي او له دې سره سره یې د باغونو او ګلانو کار کوونکي په ښــه بیه پېرې اوپچې یې په ګټه کې پاتې کېږي، نو د څو کلونو په تېرېدو سره ستره رمه ترې جوړېدی شي.

د چرګانو وېش د افغاني ســرې میاشـــتې د کابل، هرات، کندهار، بلخ او ننګرهار ولایتونو د نماینده ګیانو په اړوند ســیمو کې بې وزلو کونډو او اړمنو کورنیو ته وروسته له سروې څخه ترسره شـوی، چې ټولټال (۱۹۹۵) دانې د هګیو چرګانې پر (۵۷) کورنیو وېشل شوې، یعنې هرې کورنۍ ته (۳۵) دانې د هګیو چرګان ورکړل شوي.

کله چې چرګانو ته مناسب ځای، دانه، اوبه او هوا برابره شـي نو ۳۵ چرګانې په یوه ورځ کې نږدې ۲۵ هګۍ اچوي، چې اوس مهال هـره هګـۍ په لس افغانۍ پلورل کېږي، یعنې پنځوس ســلنه ګټه کوي. د یادونې وړ ده چې د چرګانو فاضـله مواد یو ډېر قوي زراعتي کود دی او د کروندو خاوندان یې په لوړه بیه پېرې او په پای کې کله چې چرګانې له هګیو پاتې شـــي بیا هم د غوښـــینو چرګانو په توګه هره یوه نږدې په درې نیم ســوه افغانۍ پلورل کېږي.

یادې مرستې هره یوه په خپل ځای یوه روانه یا اوږدمهاله مرسـته ده، چې د وړې کورنۍ لومړنیو اړتیاو لپاره بســـنه کوي. په دې ډول د افغاني سرې میاشتې ټولنې وکولای شول، چې له یادو کورنیو سره روانې مرستې وکړي، چې په هر اړخیزه توګه د لږ یا لنډ مهاله مرستو په پرتله ډېرې اغېزمنې دي.



# حمایت روانی

شینه وال

**پیوسته با گذشته...**

**مرور اجمالی بر پیامدهای روانی حوادث:**

اگر تصور کنیم که ما و خانواده ما قربانی یک حادثه، همچون زلزله، گردباد، سیل یا سقوط طیاره یا انفجار یک کارخانه هسته ای یا قربانی یک حمله دشمن در جامعه خود شده ایم، وقتی که به چنین حادثه دچار میشویم، برای ما چه اتفاقی می افتد؟ تحت چنین شرایط چه احساس و تجربه داریم؟

در پاسخ به روشنایي و صداهای بلند ناشی از واقعه تقریبا بدون استثناء، قلب ما خواهد زد، دهان ما خشک شده ماهیچه های ما دچار تنش می شود، اعصاب ما در حالتی غیرهشیارانه قرار گرفته و احساس اضطراب یا ترس یا وحشت شدید می کنیم. در صورتی که از قبل چندان هشداری، در باره واقعه نداده باشند یا هشدار ها اندک بوده باشد، ممکن است نتوانیم آنچه که اتفاق افتاده، درک کنیم. شوک، احساس غیر واقعی بودن و ترس غالب میشوند. مدت ها پس از وقوع حادثه روشنی، صدا، بوی و احساسات مربوط به حادثه به شکل تصورات محو ناشدنی در خاطرات ما حضور خواهد داشت.

به موازاتی که شوک و وحشت آنی محو میشوند، آثار درازمدت تر، بارز میگردند. حوادث، باورها و مفروضات اساسی ما را به چالش می کشند. اکثر ما در بیشتر اوقات معتقدیم که دنیای خصوصی ما پیش بینی پذیر، نیک خواهانه و معنی دار است. فرض ما این است که می توانیم به خود و دیگران اعتماد کنیم وبا مشکلات مواجه شویم. حوادث این باورها را تخریب میکند و متوجه میشویم که آسیب پذیریم، احساس درماندگی و نا امیدی می کنیم. از اینکه قدرت تصمیم گیری نداریم و از مواجهه با مشکلات ناتوان هستیم، مأیوس و دلسرد می شویم.

با وقوع حوادث، برای مرگ عزیزان سوگوار و از زنده بودن خود شگفت زده می شویم (ممکن است برای زنده ماندن خود، احساس گناه یا بی ارزشی کنیم). همچنین برای خانه، یادگاری های شخصی، مدارک نابود شده، دوستان و آشنایان از دست رفته خود، سوگوار می شویم. در صورتی که حوادث، فعالیت های حیاتی سنتی جامعه یا خود اجتماع را آشفته کرده باشد، ممکن است احساس شدید از دست دادن ریشه های مستحکم هویت اجتماعی و فرهنگی را هم داشته باشیم. از دست دادن دنیای خصوصی، احساس ایمنی، احساس اعتقاد و باور به خویشتن، احساس اعتماد داشتن به دیگران، فقط فکر نیستند بلکه محرکی برای احساسات ژرف و عمیق فقدان و سوگ می شوند.

در روزها و هفته های متعاقب بروز حوادث، ممکن است دامنه گســـترده از آشفتگی ها و اختلالات عاطفی را تجربه کنیم. در مورد تعدادی از افراد سوگ مزمن افسردگی، اضطراب ویا احساس گناه غالب میشـود و در مورد دیگران مشکل کنترول نمودن خشم، بدبینی و سوء ظن، تحریک پذیری و خصومت شایع و غالبند. کســانی هم هســـتند که از ارتباط با سایرین اجتناب کرده و دوری می جویند.

در مورد بســیاری از افراد، کابوسها، خواب را آشفته می سازند ویا بازگشـت ناگهانی خاطره حادثه در ساعات بیداری، فرد احســاس میکند که گویی آن دوباره در حال واقع شـدن اسـت،ســاعت ها افراد را بیدار نگاه می دارد و بسياري از افراد به مصرف مواد مخدر و الکولیناه میبرند، که چنین پناهندگی ایشانرا به سرنوشت بدتر دچار میکند.

در الگوهای مرتبط با علایم حوادث، ممکن اســـت تفاوت ها و تنوعات فرهنگی وجود داشته باشد، ولی گذارش های موجود از کشـــورهای چون چین، جاپان، سریلانکا، مکزیک، کلمبیا، ارمنســتان، رواندا، آفریقای جنوبی، فیلیپین، فیجی، بوسنیا، انگلستان، استرالیا، و امریکا نشـان میدهند که پاسخ های عاطفی و هیجانی به حوادث درهمه جای دنیا، شباهت های بسـیاری با یکدیگر دارند.

## قربانیان ثانویه:

(قربانیان اصلی ) کسانیکه به طور مسـتقیم حوادث را تجربه می کنند تنها کسانی نیسـتند که آثار هیجانی و عاطفی حوادث را احسـاس می کنند. بلکه قربانیان ثانوی که عبارت از خانواده قربانیان اصــلي، شـــاهدان، ناظران، رضاکاران، و کارمندان رسمی که در پی نجات قربانیان هســـتند نیز ممکن است آثار عاطفی شدید را تجربه کنند. کارمندان بهداشتی و بهداشـت روان و کارکنان امدادی دیگری که متعاقباً با قربانیان اصـلی و ثانوی کار میکنند نیز تحت تأثیر آثار جســـــمی و عاطفی بر دیگران و احتمالاً بر خودشان قرار میگیرند و ممکن است قربانیان ضربه های جانشین شوند .

حتی کســــــانی که به بررسی حوادث می پردازند خبرنگاران، امدادگران سازمانهای امدادی که نیاز سـنجیها را انجام میدهند، نیروهای مدافع حقوق بشر هم ممکن است آسیب ببینند.

## حوادث ثانوی:

بدیهی است که منبع اصلی ضربه عاطفی ناشـی از حادثه در ذات خود حادثه است، اما منبع ضربه زننده حتی پس از محو شدن حادثه وهنگامیکه قربانیان نجات یافته اند پایان نمی پذیرد. بعد از وقوع حوادث اصـلی حوادث دیگر که به تأثر از آثارحوادث رخ میدهد حوادث ثانوینامیده میشوند. هجوم سریع امداد گران خیرخواه به منطقه، به منظور تدارک سـر پناه و غذا برای آســیب دیده گان، به آشوب و رقابت برای دستیابی به منابع محدود می افزاید. در بعضـی موارد، افراد فقیری که خارج از منطقه قرار دارند به منظور آن که ســهمی از مواد غذایی و سایر وسـایلی که واحدهای امدادی به قربانیان ارایه می دهند، داشته باشند، وارد منطقه بلازده می شـوند. این موضـوع خود بر زحمت امداد گران و بر رنج و محنت جامعه بلازده می افزاید.

کســــــانی که به عنوان پناهنده در سرپناه یا در یک اردوگاه جا می گیرند، مجبورند که برای دوره های زمانی کوتاه یا دراز مدت به شکل طاقت فرسا و پیوسته با پیامدهای حوادث مواجه شوند. در چنین شرایطی به خسارات مالی و جانی، از دست رفتن حریم خصـوصی، از دست رفتن اجتماع، از دست رفتن استقلال، از دست دادن آشنایی با محیط و از دست رفتن اطمینان نسـبت به آینده نیز افزوده می شوند. استحکام خانواده ها از هم پاشیده میشــــــود و تقسـیمات کاری محو میشـود. سرپناه و تأسیســات بهداشتی نا مناسب و نا کافی و آب و غذای آلوده، ممکن است موجب وبا شـده بیماریهای واگیردار و مرگ و میر گسترده ای را سبب گردند.

در سرپناه ها، سوء استفاده های جسمی وجنســی ممکن است خطراتی برای زنان، سالمندان وسایر افراد آسیب پذیر داشته باشد. به موازات گذشـت هفته ها و ماه ها، خشـم و نارضایتی ناشی از کندی روند باز سازی ونرسیدن کمک های مردمی به قربانیان، به فشارها افزوده میشود. در بعضی از موارد چنین نا رضایتی ها منجر به آشوبهای سیاسی گسترده ای میگردد . . . .

بقیه در شماره بعدی





# سوزېدل

د. محمد بشیر

پە تېر پسې...

**دویمه درجه سوزېدل:**

دویمه درجه سوزېدل د لومړۍ درجې په پرتله جدي ده، ځکه ددې ستونزه له پاسني پوستکي څخه زور ننوزي نو لدې امله دا ډول سوزېدل د تناکو او ډېر سوروالي او سوي لامل کېږي.

د وخت په تېرېدو سره ځینې تناکې چوي او پراخ پرانیستی تپ ترې جوړېږي او سوزېدلی ځای ته اوبلنه بڼه ببښي او دارنګه کېدی شي د وخت په تېرېدو سره تپ پېړ، نرم او پرسېدلی څرګند شي.

لدې کبله چې دا ډول تپ ډېر نازک وي نو د یاد ځای پاک ساتل او بنداژ کول الزامي دي؛ ترڅو له عفونت څخه وژغورل شي، چې دا کړنه په لنډه موده کې رغېدلو سره مرسته کوي.

د ځینې دویمه درجه سوزېدلو رغېدنه له دریو اونیو څخه ډېره موده نیسي، خو ډېری یې داسې دي چې په دوه تر درې اونیو پورې پرته لدې چې د زخم ځای څرګند شي رغېږي. څومره چې تناکه ژوره وي رغبدل یې هومره ډېره موده نیسي، خو ځینې وخت داسې هم وي چې سوزېدلي تپي ځای باندې باید د بدن له بل روغ ځای څخه خرمنه پیوند کړی شي.

په دویمه درجه سوزېدلو کې هم باید د مالوچو له ابښودلو څخه او له مشکوکو کورنیو درملنو څخه ځان وساتل شي، د دویمې درجې سوزېدلو

**درملنه په کلي توګه لاندې موارد لري:**

ـــ د پینځلس دقیقو لپاره سوزېدلی ځای په سړو اوبو کې ډوب کړی شي.

ـــ د درد ضد درمل استعمالول، لکه (استامینوفن یا آیبوپروفن).

ـــ د تناکو په مخ باندې د انتي بیوتیک مرهم استعمالول.

که چېرې په لاندې یادو ځایونو کې پراخه سیمه په دویمه درجه سوزېدلې وي نو پکار ده چې ژر تر ژره یې طبي درملنه وشي.

ـــ مخ

ـــ لاسونه

ـــ کناټې

ـــ پتون

ـــ پښې

**دریمه درجه سوزېدل:**

که له څلورمې درجې سوزېدلو څخه صرف نظر وکړو، نو دریمه درجه سوزېدل تر ټولو شدیده بلل کېږي، پدې حالت کې د پوستکي لاندینۍ برخه هم سوزېدلې وي.

يو ناسم تصور شته چې خلک وايي دريېمه درجه سوزېدل تر ټولو سخت دردوونکی وي، خو بر عکس په دې حالت کې سوزېدل ځکه دردوونکی نوي، چې عصبي رشتو ته زيان رسېدلی وي.

**هغه نښې نښانې چې دريېمه درجه سوزېدل يې کولای شي څرګندې کړي:**

ـــ سپين بخونی رنګ

ـــ د ډېرو سکرو رنګ

ـــ تور بخونی قهويي رنګ

ـــ پړسوب او د څرمنې شکل

ـــ وړې وړې تناکې چې نورې نه غټېږي

دا ډول سوزېدل هېڅکله هم د رغېدو مهال وېش نشي لرلی او هېڅکله هم نشو ويلی چې په خپل سر به روغ شي.

هېڅکله هم کوښښ مکوئ، چې دريېمه درجه سوزېدل په خپله درملنه وکړئ، اړينه ده چې د داسې پېښې له کېدو سره سم روغتون سره اړيکه ونيسئ او د روغتياپال د مرستو تر رسېدو پورې کوښښ وکړئ، چې سوزېدلی ځای تر خپل زړه پورې اوچت وساتئ او دا ډول له سوزېدلي ځای څخه خپل لباس هم هېڅکله مه نغاړئ، خو پدې هم بايد داډه اوسئ چې د لباس هېڅ ځای مو په ټپ پورې ونه نښلي.

**د سوزېدلي عوارض:**

د لومړۍ او دويمې درجې سوزېدو په پرتله دريېمه درجه سوزېدل ډېرې خطرې او عوارض لري، لکه: عفونت، وينه ضايع کېدل او شوک يا بې سده کېدل. ياد عوارض که له پام څخه وغورځول شي مړينه را منځته کېږي، خو پدې بايد پوه شو، چې د سوزېدو هره درجه کولای شي عفونت را منځته کړي، ځکه باکتريا کولای شي له سوزېدلي پوستکي څخه په آسانه جسم ته ننوزي.

د ځينو نورو باکترياو د مداخلې په نتيجه کې کېدی شي عصبي دستګاه ستونزمنه شي او د عضلاتو د انقباض ستونزه رامنځته کړي.

دا رنګه شديد سوزېدل د هيپوترمي او هيپولومي خطرې له ځان سره ولري. د بدن د تودوښې ډېر خطرناک ټيټېدلو ته هيپوترمي وايي، کېدی شي هيپوترمي له سوزېدو سره اړوند ښکاره نشي، خو حقيقت دا دی، چې دا وضعيت د پېښې له شدت څخه را منځته کېږي. هيپوولمي يا د وينې د حجم کمېدل هم کله نا کله را منځته کېږي چې اصلی لامل يې د وينې ډېر ضايع کېدل دي.

**له سوزېدو څخه د مخنيوي لارې چارې:**

د سوزېدو د مخنيوي لپاره تر ټولو ښه چاره د پېښې مخنيوی دی. که څه هم ځنې ځانګړې مشغوليتونه شته، چې تاسې د سوزېدو له خطر سره مخ کوي، خو واقعيت دا دی، چې سوزېدل ډېری په کورونو کې واقع کېږي. نوي زېږېدلي او واړه ماشومان ډېر ځل د سوزېدو له پېښې سره مخ کېږي. په کور کې رومبني اقدامات کولای شي تاسې له پېښې څخه وژغوري.

ـــ د پخلي پر مهال ماشومان په پخلنځي کې مه پرېږدئ.

ـــ د پخلي د لوښي لاستی داسې اړخ ته واړوئ چې ستاسې جامې پکې بندې نشي.

ـــ په پخلنځي کې او يا پخلنځي ته نږدې د اور وژنې ډبې وساتئ.

ـــ د ګاز ډبې والونه هر وخت وګورئ چې ليک نوي.

ـــ ګوګړ يا نور د اور لګيد سامان چېرته بند وساتئ، چې د ماشومانو لاسته ور نشي.

ـــ بر ښنايي سيستم مو پوښلی وساتئ.

ـــ شيميايي مواد له هستوګنځای څخه لرې وساتئ او له شيميايي موادو څخه د استفادې په صورت کې دستکشې وکاروئ.

ـــ نوي زېږېدلي او واړه ماشومان د لمر له تيزې شعاع څخه وساتئ، په ځانګړې توګه هغه شعاع چې له ښيښې څخه کوټې ته پر يوتې وي.

ـــ د شپې پر مهال د ګاز ډبې له هستوګنځای څخه بهر کړئ او هر ډول اور لرونکي وسايل بند وساتئ.

دا رنګه د احتمالي اور لګېدنې تر مخه د تبښتې ليارې وټاکئ.

ـــ کوښښ وکړئ په لګېدلي اور باندې خاوره او يا داسې څيز واچوئ چې اکسيجن پرې بند کړي.

لومړۍ او دويمه درجه سوزېدل که ژر تر ژره او په ښه طريقه درملنه وشي په بشپړه توګه رغېدی شي. ددې ډول سوزېدنو د ټپ ځای نښې نښانې پاتې کېدل نادرې دي، خو کولای شي، چې د پوستکي رنګ بدل کړي، خو د پام وړ ټکی دا دی، چې د سوزېدلو ستونزه او له هغې څخه د رامنځته شوي عفنوتونو کچه را ټيټه شي.

د دويمې او دريمې درجې سوزېدنې له کبله رامنځته شوې ستونزې کولای شي په پوستکي کې ژورې کندې او د هډوکو او غړو مشکلات را منځته کړي، نو لدې کبله کېدی شي ناروغان لاندې ټکو ته اړتيا ولري.

ـــ جراحي عمليات

ـــ فزيوتراپي کړنې

ـــ تقويه

ـــ د عمر په اوږدو کې څارنه

د سوزېدلو لپاره جسمي درملنه ډېره اړينه ده، خو په ياد ولرئ، چې دا ډول ناروغان عاطفي درملنې ته هم اړتيا لري، چې دا ډول درملنه ځانګړي روغتياپالان لري، چې هغوی ته حمايتي د اعتبار وړ مشورې او ډاډ ګيرنه ور کوي؛ تر څو يې د پېښې په اړه روحيه پياوړې شي.



# یخنۍ کې د زکام مخنیوي لپاره

## کومې نسخې باید وکارول شي؟

ډاکټر فریداحمد لامع

زکام که څه هم په هر موسم کې لګېدونکې ناروغي ده، خو د سړې هوا له کبله په ژمي موسم کې ډېره پېښېږي، ډېری پوهان په دې نظر دي، چې د زکام د مخنیوي لپاره تر دې دمه دقیق درمل نه دي وړاندې شوي.

له یوه اړخه که خلک د یخنی موسم ته ښه راغلاست وایي، خو له بل اړخه د دغې ناروغی له پېښېدو یې په زړه کې ډار وي، ځکه چې زکام ناروغي تنګوونکې او د ځینو په اصطلاح شرموونکې ناروغي بلل کېږي.

ځینې خلک د موسم په بدلېدو یا د ځای او هوا بدلېدو له کبله پر زکام اخته کېږي، دېته الرجي یا حساسیت ویل کېږي او ځانګړې درملنه لري، خو په عام ډول زکام ناروغي لږ تر لږه تر یوې اوونۍ اوږدېږي، د ډاکټرانو په وینا که د زکام مخنیوي لپاره له سختو درملو کار واخیستل شي نوري ناروغی لکه دماغي ناروغی، سردردي او داسې نور رامنځته کوي.

د زکام د رامنځته کېدلو اصلي لامل د بدن دفاعي وړتیا کمزوري کېدل او د بدن خوشکېدل دي، چې په آسانه بدن ته هر ډول وایروس ننوځي، ددې لپاره ویل کېږي، چې د زکام په مخنیوي کې درمل کارول زیاتره د نورو ناروغیو لامل کېږي، نو غوره ده چې له هغو طبیعي لارو چارو کار واخیستل شي، چې هم مو د زکام مخنیوی وکړي او هم مو د یخنی په زړه پورې موسم په ښه او روغتیایي انداز پیل شي.

### د لاسونو پاکوالی:

د لاسونو پاکوالی مو له زکام څخه په ژغورلو کې مهم رول لري، ځکه چې د زکام وایروس له دویم کس نه د توخې، پرنجي او په بېلا بېلو څیزونو باندې لاس وهلو څخه خولې، پوزې او غوږ ته انتقالېږي، چې ورسره انسان د زکام په ناروغی اخته کېږي، ددې لپاره هر مهال له خوراک، څښاک یا پرمخ لاس وهلو څخه وړاندې لاسونه پاک کړئ.

### ښه خوب:

د ښه او آرامه خوب پرمهال بدن د حجرو په رغولو بوخت وي، چې له ۶ نه تر ۸ ساعتو پورې خوب ددې په رغولو کې ښه رول لري، په دې سره مو بدن ته د زکام وایروس نه ننوځي، خو بالعکس د خوب کمښت د ذهني فشار سربېره د بدن دفاعي پیاوړتیا کمزوري کوي، چې له کبله یې پر انسان د زکام وایروس غلبه کوي.

### ورزش:

د انسان بدن د ورزش په ترسره کېدلو د وینې جریان چټکوي او ورسره په دې کې سپینې حجرې ددغې وایروس په مخنیوي کې مرسته کوي، د ورځې په اوږدو کې لږ تر لږه تر یوه ساعته ورزش کول زیاته ګټه لري، د زکام مخنیوي لپاره ورزش کولو څخه د ځان ستړیا او ګرمول مراد دي، هغه که له هر ډوله ورزش څخه وي.

### هوږه:

هوږه د مکروب له منځه وړونکې سبزي ده له دې او داسې نور خوراکي موادو څخه استفاده کول د یخنی موسم ځانګړو باکتریاو او وایروسونو پر وړاندې د بدن مقاومت زیاتوي، په دې کې ګډې برخې د (الیسین) انفیکشن او اغېز مخه نیسي، هوږه په خپلو بېلا بېلو خوړو کې استعمال کړئ حیرانونکې ګټې به یې وګورئ.

### اوبه څښل:

په یخنی کې اوبه څښل زمونږ په ټولنه کې یو غلط تأثر ګڼل کېږي، ویل کېږي چې په دې سره انسان په زکام اخته کېږي، خو په حقیقت کې په بشپړه توګه اوبه څښل بدن ته مناسبه نم ورکوي او د بدن دفاعي نظام او په کار اچول شوي حجرې په سمه توګه کاروي، اړینه ده چې د زکام مخنیوي لپاره زیاتې اوبه وڅښل شي؛ تر څو د بدن اوبه بشپړې شي او د دفاعي نظام یې غښتلی شي.

سربېره پر دې شهد خوړل د زکام په مخنیوي کې ښه ثابتېږي، هر سهار په نهاره یوه کاشوغه شهد خوړل د نورو ناروغیو سربېره د زکام مخه هم نیسي، همدا ډول مالګینې اوبه هم د زکام په دوران کې غوره ثابتېږي، چې ورسره مو له ستوني څخه باکتریاوې او لعاب له منځه ځي.

د زکام پرمهال له کومو خوړو باید ځان وژغورل شي؟

### تروش خواږه او اچار نه خوړل:

تروش خواږه او اچار له مالګې او تروشې سرکې څخه جوړېږي، چې له کبله یې په ستوني کې سوزش زیاتېږي، د زکام پرمهال باید له داسې خوړو پرهیز وشي، سربېره پر دې سخت خواږه هم بدن کې خوشکي رامنځته کوي او د زکام ناروغي سختوي.

### ګازي څښاک نه کول:

ګازي څښاک په بدن کې د اوبو کچه کموي او د شکر کچه لوړوي، چې له کبله یې له بدن څخه د بیمارۍ له منځه تلل ستونزمن شي.

### خواږه او سړه کړي خواږه کم خوړل:

همدا ډول د زکام پرمهال سړه کړي خوراکونه، تروشې مېوې، مساله دار او ترخه خوراکونه، خواږه، شیریني یا مټایان او داسې نور خواږه، چې په مصنوعي ډول چمتو شوي د زکام په لا زیاتولو کې مرسته کوي، باید ډډه ترې وشي.



# داستان زنده گي کریم

صلاح الدین ایوبی

داستان زندگی کریم ، مرد فقیری که از کمک هلال احمر بهره مند گردیده و زندگی اش متحول شد.

کریم که حالا زندگی مرفه و آسوده دارد از یادگارهای زندگی اش چنین حکایت میکند: من در یکی از روستاهای دور افتاده کشور زندگی میکردم، سه فرزند داشتم که همه در سن طفولیت بودند، با انجام دادن کارهای روزمزد با دهاقین قریه امرار معاش مینمودم، چنین کارها حد اکثر در هفته دو الی سه بار برایم مهیا میشد، من آن روز را که برایم کار مهیا میشد به گونه روز عید تجلیل میکردم، زیرا بر علاوه اینکه مزد به دست می آوردم، بعد از اینکه از مزدوری فارغ میشدم از زمین همان شخص هیزم و یا سبزی جمع میکردم و به سردی های سخت زمستان ذخیره میکردم. در ماه های اخیر خزان اندک مطمئن شده بودم که اقلا مواد سوخت زمستانی را ذخیره دارم.

روز از کار فارغ شدم از زمین های زراعتی با خود سبزی داشتم تا باشد که برای نان شب خود چیزی داشته باشیم، من به امید اینکه امشب با شکم سیر ، آرام استراحت نمایم ولی فیصله تقدیر این بود که در زیر آسمان کبود تا به فردا سرگردان و نا آرام باشم.

وقتیکه نزدیک خانه شدم دیدم که پسرانم با پاهای برهنه و چشمان پر از اشک سوی من می آیند، هر چه می پرسیدم که چه اتفاق افتاده است، آنها را خفقان گرفته بود و نمیتوانستند چیزی بگویند، متوجه شدم که از خانه من دود بالا میشود، شتابان رفتم دیدم که خانه و کاشانه همه طعمه حریق شده اند . این حادثه از بد ترین واقعات و خاطرات فراموش ناشدنی من است. من در غم نان بودم. خانه، فرش و ظرف را نیز از دست دادم .همیشه با خود میگفتم حالا اگر مصروف ترمیم خانه شوم اهل و عیالم گرسنه میشوند و اگر مصروف مزدوری شوم از گزند بی سرپناهی اذیت میشوم.

دیری نگذشته بود که روزی از روزها طالع بختم طلوع کرد، مردم میگفتند که تیم کمک رسانی هلال احمر افغانی به قریه ما می آیند، من فکر میکردم که شاید نماینده قریه من را در لست مستحقین درج نخواهد کرد، ولی دیدم که کارمندان هلال احمر افغانی خانه به خانه میگردند، وضعیت زنده گی همه را از نزدیک مشاهده میکنند، با همه برخورد یکسان میکنند، هیچ نوع تبعیض سمتی و زبانی ندارند، فقط در فکر این هستند که مستحق ترین کی و در کجا است، همه را با جبین گشاده می پذیرند.

از اینکه من در پناه اطاق نیم سوخته بی کلکین و بی دربازه زندگی داشتم، آنها با دیدن حالتم سخت متأثر شدند من را در لست فقرای قریه درج کردند، بعد از فاجعه حریق ، بار اول بود که من مالک بسته مواد غذائي شدم و برعلاوه آن اجناس غیر غذائي مثل پوشیدنی ها و سایر اجناس ضروری خانه را به من سپردند. این همان لحظه های بود که من روزنه امید را باز احساس کردم. ولی باید گفت قبل از اینکه من از کمک ایشان متأثر شوم از اخلاق و رویه نیک ایشان سخت متأثر شده بودم، من ایشانرا فرشته های نجات نامیده بودم و همیشه برایشان از صمیم قلب دعاء میکردم.

دیری نگذشته بود که همان تیم های هلال احمر افغانی دوباره به قریه ما آمدند، آنها آموزش حرفه ها و کار در برابر پول را در قریه به راه انداختند، من به گونه فرصت طلائي از آن استفاده نموده، روزهای مسلسل در بدل پول کار کردم و نیز مهارت اجناس دست سازی را خوب آموختم، بعد از فراغت به استفاده از پس انداز پول که در برابر کار گرفته بودم دست به کار شدم اجناس دست ساخته خود را به بازار عرضه میکردم، رفته رفته کارم رونق یافت تا پسرانم هم توانائي فروشات اجناس در بازار را دریافتند، بلاخره مالک یک غرفه شدم غرفه هم به دوکان و بلاخره به خرید و فروش اجناس شروع کرده تاجر شدم. اینست حالا بر علاوه اینکه خرچ خانه را تأمین کرده میتوانم و در خانه شخصی خود زندگی میکنم، سه فرزندم به مکتب و مدرسه میروند، ویک مقدار پول را جهت کارآمد آینده خود و اولاد هایم نیز پس انداز کرده ام، امید به یک زندگی روشن و آرام در آینده دارم.

شاید کریم در طول عمرش کمک های زیاد گرفته باشد ولی باز هم فقیر و نادار بود، مگر زمانیکه با تیم های هلال احمر افغانی حرفه آموخت و آنرا فرصت دانست، توانست که از برکت حرفه خود برای ابد از فقر نجات یابد. و از برخورد نیک رضاکاران هلال احمر افغانی متأثر شده تعهد میسپارد که تا زنده است با نیازمندان کمک خواهد کرد و در آموختاندن حرفه اش به دیگران هیچ وقت دریغ نخواهد کرد.



# پردی کټ

خیال محمد توحیدیار

"پردی کټ تر نیمې شپې وي " دا جمله په ژبه هسې آسانه لوستل کېږي، خو چې کله څوک په نیمه شپه له خواږه خوبه ویښ کړی شي او کټ ترې واخیستل شي، بیا ښه پوهېږي، چې څومره سخته او ځوروونکې خبره ده.

یاده جمله مې له ډېرو خلو اورېدلې او ډېر ځله مې خپله هم په خبرو کې کارولې، خو دا ځل مې د داسې چا د خبرو په منځ له ساړه اسویلي سره واورېده، چې په څېره یې د زړه د برهاس او مایوسۍ انځورونه لیدل کېدل.

دا د یوه داسې مهاجر کډوال د ژوند داستان دی، چې د ژوند په ډګر کې د یو ماتې خوړلي لوبغاړي په څېر حیران او زړه نا زړه ولاړ دی، ځان سره کړي ربېي، چې شاته تګ وکړي او که بېرته خپل لوېدلی مورال را پورته او لوبې ته په نه زړه، خو له مجبوریته را مخته شي.

دی اړ دی، چې یو څوک یې په ملا وټپوي او د ژوند د روانې لوبې دوام ته یې چمتو کړي.

راځئ د دې بې وسه کډوال (میراجان د محمد جان زوی د غزني ولایت اندړو ولسوالۍ اوسېدونکي) داستان د ده له خولې واورو!

"هغه شپې او ورځې اوس راته یو خیال ښکاري، له ژوند څخه مو خوند اخیست. پلار، تره، ادې، وروڼو او کوچنۍ خور سره به یو ځای د شپې ډوډۍ ته د کوټو مخته په برنډه ناست وو، کشرۍ خور او دوو وروڼو به په آسمان کې ستوري وېشل.

کشرۍ خور به مې دوو کوچنیو وروڼو ته ویل:

"آغه غټ ستوری د ابا، دغه بل یو د لالا، په آغه درې وړو ستورو کې د منځ وال یې زما او دواړه خواوو ته تاسې یاست ".

دا له خونده ډک وختونه په چټکۍ روان و، موږ یې د زوال سوچ هم لا نه کاوه، خو یوه ورځ مو ابا وویل : "نور به بهر په برنډه کې نه کښېنو، ځکه وضعیت خراب دی، هسې نه کومه مرمۍ راشي، بیا به یې له چا سره حساب کوو ".

دې وخت کې به د شپې له خوا ډزې زیاتې کېدې، سهار به چې ابا له کوره ووت، په بېرته راتګ سره به یې حالت ښه نه و، کله به یې ویل، چې د فلاني زوی بیګا شپه چا ویشتی، کله به کوم ځوان نادر که و.

ورځ په ورځ حالات د خرابۍ پر لور روان و، چې یوه ورځ مې ابا او کاکا په خپلو کې سره غږېدل، کاکا مې ورته په خبرو کې وویل، چې نوره ګذاره نه کېږي، له خسر سره مې خبره وکړه، ویل یې چې دلته راشئ، لږ تر لږه سرونه خو به مو په امن وي.

په سبا مې پلار غواوې او پسونه، را نږدې نخاس ته روان کړل، مازدیګر ځږېدلی سر کور ته راغی، کاکا ته یې ویل، چې مجبوره وم، په تاوان مې ورکړل، کا کا ورته وویل د سري سر غم دې نه وي.!

اونی نه وه تېره، چې پلار مو وویل: سبا به له لمر ختو مخکې حرکت کوو، زړه مې ښه و، چې نوي ځایونه به ووینم، لږ به د غواوو او پسونو له څرولو خلاص شم، هغه کلیوال، چې ژمی به یې مســــــافري کړې وه، دوبی چې به کلي ته راغلل، تر نورو به لږ ښه پاک او منظم معلومېدل، زړه مې غوښــتل، چې زه هم د هغوی په شان پاک وګرځم او بیا چې کلي ته راشم، هر څوک راسره ښــه په مینه ناسته ولاړه وکړي.

درته لنډه به یې کړم، دوه ورځې وروسته مو د کاکا د خســــــر کور ته، چې د پېښــور په ګېنټه ګر سیمه کې و، ورسېدو، دوی په خپل کور کې یوه کوټه موږ ته ځانګړې کړه، سړي به مو بهر حجره کې اوسېدل او نور د کور زنانه او واړه مو په همدې کوټه کې اوسېدل.

د مېلمســتیا ورځې مو تېرې شوې، ابا او کاکا مې هره ورځ د یو کار په لټه ښار ته تلل، چې څو ورځې وروســته مې ابا راته وویل: "میراجانه زویه! تاته به هم یوه ګاډۍ ولګوم، ممپلي به خرڅوې، دا چای ګوړه خو به شي. "

ما ورته د هو په دود سر وښــوراوه، خو ځان سره مې ویل، چې زه به څنګه دا کار وکولی شم، ځکه ما هېڅ د اخیســـــــتلو او خرڅولو تجربه نه درلوده، خو مجبوره وم، ځکه موږ باید دومره څه پیداکړي وای، چې د خوراک څښـاک تر څنګ مو یو دوه کوټې هم جوړې کړې وای.

اونی وروسته له خپل کار سره ښه بلد شوم، په شوق به مې ســهار ګاډۍ خپل سټاپ ( تم ځای) ته بېوله او مازدیګر به له لږ ګټې وټې سره کور ته راتلم، ژوند ورو ورو ښه کېده.

میاشتې همداســې تېرېدې، چې نږدې یو کال وروســته مو د دوو کوټو تهداب کېښود، څو میاشتو کې کوټې تیارې شوې او خپل کور کې مو هســتوګنه پیل کړه.

د ژوند سیســـــــتم مو ښه شوی و، د لاس او خولې د چلېدو تر څنګ مو یو څه سپما هم کوله، چې څه موده وروسته مو یو وړوکی دوکان کېښــود، زه او پلار به مې په دوکان کې ناست وو او کوچني ورونه او کشــــــــرۍ خور مو نږدې ښوونځي ته تلل.

شاوخوا ګاونډیان مو هم ټول له هېواده راغلي مهاجر وو، دوی سره مو د کلي او پښتنوالي دود او دستور پاله، ټولو ته ورکه خوښي یو ځل بیا را ګرځېدلې وه، ټول به سهار وختي خپلو کاروبارونو ته وتل، مازدیګر به د مسـجد مخته باندار د کلي یادونه را په زړه کول، خو دلته مو هم ښه ساعت تېر و.

ژوند همداســې په خوند روان و، دلته د اوســېدونکو کډوالو درد، غم او ښـادي ســره شــریکه وه، ټولو کوښــښ کاوه، چې د ځان او نورو لپاره د یو خیر ذریعه شــي، زموږ ځینې ګاونډان د خپل زیار له کبله د ســیمې او آن د هېواد په کچه تجاران شول، دوی ډېر نېکان خلک و، د بې وزله او غریب لاسنیوی یې کاوه او د خیر کارونو کې یې یو له بل څخه ځانونه وړاندې کول.

خو حالاتو یو ځل بیا د ناځوانۍ او نا پیــرزوینــې پاڼه را واړوله. حکومت اعلان وکړ، چې په غیر قانوني ډول راغلي کډوال دې د یوې میاشتې دننه له هېواده ووځي.

دا اعلان نه و، پر موږ سم د غم او ویر زېری و، ټول وارخطا و، کلي کې مو، چې ځمکې او جایدادونه ول، هغه خو مو خرڅ کړي و او په پیســـــو مو دلته واړه او غټ کاروبارونه جوړ کړي و.

دلته مو چې کوم کاروبارونه دي، دا خو هم په یوه میاشت کې نشي را ټولېدی، حیران و، چې څه وکړو، هېڅ مو له وســه نه کېدل، پردی هېواد و، چا مو غږ نه اورېده.

د کور، دوکان او نورو ســامان آلاتو د پلورلو تابیا مو وکړه، خو د هر څه بیې له نیمایي هم را ټیټې شـوې وې، دوکان یې په هغه بیه غوښــت، چې په کې د شته توکو قیمت یې هم نه پوره کاوه، هغه د دوکان د جوړېدو لګښــــت خو هسې پر پرېږده، کور هم په همدې ډول، خو مجبوره و، بله چاره مو نه لرله.

ځینو ګاونډیانو مو وویل، چې موږ خو نه ځو، ځکه چې چېرته لاړ شــو، هېڅ د ورتګ ځای نه لرو.

موږ خپل هر څه په تاوان وپلورل، په نه زړه له ناچارۍ په کرایي موټــر کــې را کېښــناستو، ځینې اړین توکي او سامانونه مو هم راسره واخیســتل، د پلار مې وچې او پترې نیولې شـونډې ســره وښــورېدې او په دردناکه لهجه یې وویل: "ای های ریښتیا چې پردی کټ تر نیمې شپې وي ".

سرحد ته له را رسېدو سره، پولیسو زموږ موټر د چک کولو په پار ودرواه او وې وویل : "تاســـې باید ټول موټر دلته خالي کړئ، ځکه موږ یې باید ووینو، چې څه مو بار کړي " له خپګانه مو هســـــــــې هم زړونه شنه و، ورته ومو ویل: پر بموږدئ، چې درنه لاړ شـو، موږ د ځان په غم اخته به څه درنه یوســو، خو دوی دواړه پښــې په یوه موزه ننیســتلي وې، د هېڅ چا یې نه اورېدل، بالاخره ډریور وویل: "دوی ته یو څه شــریني ورکړئ، نور کار نه درســره لري " له مجبوریته مې کاکا د پولیس جېب ور ګرم کړ او موټر ته یې اجازه ورکړه.

له ســرحد چې را واوښــتو، حیران وو، چې چېرته به ځو، که یواځې خپل ځان وای، هر چېرې مو یوه ګذاره کولی شوای، خو تورسرې ښـځې، ماشـومان او کور را تر غاړې دی.

په همدې سوچونو کې و، چې موټر ودرېد، درې نفره را وړاندې شـول، یوه په کې سور واکټ په تن کړی و، دوو تنو یې ځانونه د حکومت مسؤلین او همدې د سره واکټ وال ځان د افغاني سرې میاشتې رضاکار معرفي کړ، دوی راته په ورین تندي د ښــه راغلاســت جملې وویلې، د دوی له کلمو ښــکارېدل، چې خبرې یې له زړه راوځي او موږ ته خوښ دي.

هغه کس چې ځان یې د افغاني سرې میاشتې رضاکار معرفي کاوه، پوښتنه وکړه، تاسو چېرته ځئ؟

پلار مې ورته وویل: وروره، ځای مو نه دی معلوم، حیران یو، چې چېرته لاړ شو؟

ځوان مسکی شو، ویې ویل: تاسو غم مه کوئ، څه بندوبست مو درته کړی، دلته مخته یو پنډغالی دی، موټر هلته وګرځوئ.

دې خبرې سره مو څېرې وغوړېدې، د پلار له خولې مې دعا ووته، خدایه بې خپلو مو مه کړې!

پنډغالي کې مو موټر خالي کړ، هلته مو څو نور ځوانان هم ولیدل، چې همدا سره واسکټونه یې پر تن و او داسې معلومېدل، چې دا خلک د کوم واده یا لویې غونډې لپاره تیاری نیسي.

ځینو یې خېمې درولې، ځینو لوی لوی دیګونو کې د خوراکونه په تیارولو بوخت و، مخامخ یوه خېمه، چې د سرې میاشتې نښان هم پرې نصب و، د ناروغانو د درملنې ځانګه وربانډې لیکل شوي و.

موږ ته یې هم دوه خېمې را ځانګړې کړې، خېمو ته په ور ننوتو سره مو ولیدل، چې کمپلې او توشکې یې مخکې له مخکې راته تیارې کړې وې، حیران و، چې موږ اوس دلته راکډه شوي یو او که میلمستیا راته شوې.

ورځ لا نه وه شپه شوې، چې یوه درې کسیزه ډله د خېمې مخې ته راغله او له پلار څخه مې ځینې پوښتنې وکړې او په کتابچه او مبایل کې یې څه ځان سره ولیکل، پلار مې ویل: دوی د افغاني سرې میاشتې رضاکاران و، دوی سروې کوي او موږ ته خواړه، درمل او نور توکي برابروي.

ماښام مهال بیا یو موټر، چې د افغاني سرې میاشتې بیرغ ور باندې نصب و، په پنډغالي کې په خېمو ګرځېدو او په سپینو یو ځل مصرف لوښو کې یې په کډوالو تیار پاخه خواړه وېشل.

زموږ هغه سوچ او فکر اوس ورک شوی و، چې څو ساعته وړاندې مو د هستوګنې د ځای د نشتون له غمه په سر کې تاوېده، اوس موږ ته هر څه تیار راتلل، کشره خور کی، چې د یخنی له امله زکام شوې وه، ډېره ټوخېدله.

په سهار هماغه رضاکاران په خېمو ګرځېدل او خلکو ته یې ویل: " که څوک مو ناروغ وي، هاغه مخامخ خېمه کې د افغاني سرې میاشتې د ګرځند روغتیایي ټیم ډاکټران او هم درمل شته، ورشئ، چې په وړیا ډول مو درملنه وکړي " ما هم خپله کشرۍ خور ځان سره کړه او خېمې ته ورغلو، ډاکټرانو د درملو ترڅنګ ډاډ هم راکړ، چې حوصله وکړئ، هر څه به ښه شي ان شاءالله.

اوس چې دا دی، په دې پنډغالي کې مو نن نهمه ورځ ده، د ژوند ټولې لومړنۍ اړتیاوې راته افغاني سرې میاشتې برابرې کړې دي، د دوی او مسؤلینو دې کور ودان وي، خو دا زموږ لپاره بسنه نه کوي، څکه موږ باید د خپلو کورونو خاوندان شو، موږ به په خپلو متو هم زور کوو، خو له نړیوالو او کورنیو خیریه بنسټونو، خیرپاله وګړو او شتمنو څخه مو هیله او غوښتنه دا ده، چې په دې سختو شرایطو کې زموږ لاسنیوی وکړي؛ تر څو موږ په خپلو پښو ودرېږو او د ټولنې د اوږو بار نه شو ".





# تولیدات گلخانه ای راه رسیدن به خود کفایی

سمسور فخری

**اهمیت تولیدات گلخانه ای:**

تولید و پرورش گیاهان مرغوب در طول سال؛ با رعایت شـــرایط محیطی مناسب و جلوگیری از عوامل زیان بار آن؛ ف از طریق ســـاخت و ایجاد مکانی به نام گلخانه تحقق پذیر است و نیز کیفیت محصولات گلخانه‌ای به دلیل استفاده بذر خالص بسیار بالا بوده و در بساط فروشندگان به مثابه نگین درخشش دارد که خود به اهمیت اقتصادی این تولید کمک می‌کند.

جلوگیری از کوچ و مهاجرت دهاقین و زارعین به دلیل تغیر اقلیم و کاهش سطح آب از شهر و منطقه و یا قریه خود، به شهرهای دیگر نیز از مزایای مهم و قابل توجه برای سرمایه گذاری روی گلخانه ها میباشد.سکتور های دولتی و خصوصی که متعهد به خدمتگذاری برای مردم بوده، به منظور خودکفایی جامعه و پیشرفت اقتصاد کشور میتوانند در این عرصه پا پیش نهند.

گلخانه منحیث یک محیط امن و کنـ ول شده؛ از نظر تولید گل، گیاهان زینتی و از نظر ترکاری (سبزیجات ) خارج از فصل، یکی از بخش های پر مفاد زراعت در سطح جهان به شمار می آید.

در گلخانه با توجه به کنتـــــرول عوامل تولید مانند نور، خاک، آب و هوای مناسب که برای کشت گیاهان وجود دارد، برای دهاقین این امکان را فراهم می سازد تا این که حاصل برداری بیشتر را در عین کاهش مصـارف آب و بذر داشته باشد و نیز از لحاظ محیطی امکان ایجاد گلخانه در سـطوح کوچک نیز قابل تطبیق می باشد. البته ایجاد گلخانه در ابعاد بزرگ نیاز به سرمایه گذاری جهت ساخت سیستم های گرم کننده، سرد کننده و سیستم آبرسانی را دارد.

از معایب عمده گلخانه ها حساس بودن آنها در ازمنه مختلف در برابر تغییرات دمای حرارت می باشد که ضرورت مراقبت های جدی و متواتر را دارد.

محمد فاضل یکی از گلخانه داران در شهر کابل در مورد انواع کشـــت در گلخانه چنین می گوید: " ما در گلخانه دو نوع کشـت داریم اول کشـت نشـأ (بذر را به صورت ابتدای در جای دیگر تا مرحله چند برگی رشد دادن و انتقال آن به محیط کشـــت اصلی) و دوم کشـــت بذر (کاشت دانه و تخم در عمق معینی از خاک) می باشد البته کشت نشـأ را بر کشـت بذر ترجیح می دهم به دلیل اینکه کیفیت حاصلات افزایش می یابد و در مصارف آب و نیروی کاری کاهش می آید.

در گلخانه ها ما می توانیم موارد همچون بادرنگ، توت زمینی، ســـمارق، زعفران، گیاهان دارویی و کاکتوس را تولید کنیم این گیاهان همه جزء موارد پر درآمد و مروج تولید گلخانه ای در افغانســـتان بشـــمار می رود و نیز در مارکیت های ملی و بین المللی بازار فروش دارند ".

بر اساس تحقیق که صورت گرفت: " نظر به اینکه اکثر مناطق کشـور دچار تغییرات اقلیمی شـده و سـطح آب ها روبه کاهش می باشـد؛ از سـوی دیگر ساخت بند ها برای دولت پرهزینه است سـرمایه گذاری به منظور خودکفایی در بخش تولید گیاهان خوراکی و دارویی امر لازمی بوده و کمک عظیمی به دهاقین و اقتصاد کشور خواهد بود ".



# قلم

حبیب الرحمن حنبل

قلم څه ته وایي؟ د قلم اهمیت، د قلم کرنې، قلم وال څوک دی او څنګه لیکنه باید وکړي؟

## قلم څه ته وايي؟

هره هغه وسلیه، چې لیکل کولای شي قلم بلل کېږي، د مرغه له بڼې او لرګي څخه پیل تر اوسنی بر ښنایي وسایلو پورې ټول قلم بلل کېږي، یا په بل عبارت ووایم؛ هر هغه څه چې د انسان د زړه مطلب د کاغذ پر مخ د هجاء په تورو انځوروي قلم بلل کېږي، لکه: قلم، موبایل، کمپیوټر، د مطبعې ماشین او داسې نور....

## د قلم اهمیت:

د قلم د اهمیت په هکله دومره بس ده، چې الله تعالی په خپل سپېڅلي کتاب (قرانکریم) کې په قلم قسم یاد کړی، فرمایي "ن والقلم ومایسطرون "

ژباړه: نون، قسم په قلم او په هغه څه چې هغوی یې لیکي.

قلم د ژبې په شان د انسانانو تر منځ د افهام او تفهیم وسیله ده. قلم هغه ژبه ده، چې غږ یې د ځمکې له یوې وچې تر بلې وچې رسېدلی شي، قلم دی چې غږ یې زرګونه کاله وروسته هم اورېدل کېږي. له ژبې څخه را وتلی مطلب یو ځل اورېدی شو، خو له قلم څخه راوتلی مطلب بار بار اورېدی شو. له ژبې را وتلی مطلب یواځې اورېدونکي انسانان پوهولی شي، خو له قلمه په را وتلي مطلب کاڼه هم پوهېدلی شي او اوس مهال ګونګیان هم د قلم په مټ افهام او تفهیم کولای شي.

هر انسان کولای شي د قلم په واسطه خپلو موخو ته ورسېږي، لکه په دري ژبه کې یو شاعر ویلي:

قلم ګفته که من شاه جهانم
قلم کش را به مقصد میرسانم

ژباړه: قلم ویلي، زه د نړۍ پاچا یم، چې د قلم را کاږونکی خپلې موخې ته رسوم.

په رښتیا هم که پلار او مور خپل ماشوم ته قلم په لاس ورکړي او د قلم په اهمیت یې پوه کړي، نو همدا ناپوه ماشوم څه موده وروسته ستر دیني لارښود، ډاکټر، انجنیر او په هر څه کې ستر کېدلی شي.

د قلم په ژبه کړکېچن او غمجن ژوند په سوکالی او خوشحالی بدلېدلی شي، د قلم په ژبه هر ناړامه انســـان ته انســـاني چارې ښودلای شو او هر ناپوه او ضدي دښمن ته د عقل سبق ورکولای شو.

قلم د توري په ځای کار کولی شـــــــي، قلم دی چې توري په خپل حکم څرخوي، په توره که ښارونه لاسته راځي په قلم سره زړونه لاسته راځي، توره که ناوړه انسانان چې د مړو په شان دي له منځه وړي قلم ژوند ور ښني.

توره قلم ته په وینا شوه          شرنگ زما دی، غوږي ستا ولې اورمه

قلم په ورين تندي گویا شو          ته به شرنگېږې کارنامې به زه لیکمه

### د قلم کړنې:

تر ټولو مهمه دا ده، چې د الله تعالی کتاب په قلم لیکل شـــــوی، د الله تعالی پیغام خلکو ته د قلم په واسطه رسېدلی، د ستر لارښود نبي کریم صلی الله علیه وسلم سپېڅلې لارښونې نړۍ ته د قلم په مټ رسېدلی، مونږ کولی شـو چې د قلم په مټ سـلگونه کاله وروسـته د خپلو پخوانیو علماو له لارښـونو اغېزمن شو.

قلم دی چې د پخوانیو ساینس پوهانو او طبیبانو تجربې یې مونږ ته لېږدولي او د اوسني عصـر انسـانان د هغوی د تجربو پر بنسـټ نن فضـاء ته ختلي، د ژوند په هر اړخ کې چې مونږ ته کومې آسـانتیاوې برابرې شـوي ټول د قلم برکت دی، قلم دی چې د انسانانو کړنې یې د تاریخ په پاڼو کې انځور کړي او د نن ورځ سـیاســـت پوهان د یادو کړنو په رڼا کې ټوله نړۍ په خپله گټه څرخوي.

### قلم وال څوک دی او باید څنگه لیکنه وکړي؟

څرگنده ده چې قلم که څومره پر مختللی وي بیا هم د لیکنې یوه وسیله ده او هغه د انســان په اراده چلېږي، نو هر څه چې لیکي انســان یې لیکي دا چې لیکنه څومره اغېزمه ده په لیکوال او د هغه په ریښتونې دیني عقیدې، پوهې، عقلي قوت، د تعبیر صـحت، اخلاقي سـمون او ادبي لوړتیا پورې اړه لري، نو ددې صفاتو لرونکي ته قلم وال ویلی شو.

د لیکوال لیکنې باید د وخت او ځای له غوښتنو سـره سـمون ولري، هغه باید خپل مخاطبین او د هغوی د پوهې کچه و پېژني، اړینه ده چې د مخاطبینو له پوهې سره برابرې کلمې او جملې استعمال کړي، د دیني موضوعاتو لیکوال باید خپلې لیکنې له قرآن او نبوي سنتو څخه د را اخیســـتل شوو دلیلونو پر بنسـټ وکړي، د عصــري تکنالوژۍ لیکوال باید خپلې لیکنې د ترسره شوو ثابتو تجربو پر بنسـټ وکړي، د تاریخ لیکوال باید په خپله لیکنه کې ریښتونې واقع شوې حقیقتونه بیان کړي.

قلم په حقیقت کې ژبه ده او مشــرانو ویلي، چې خپله ژبه هم کلا ده هم بلا. مونږ کولی شـو چې یو مطلب په دوه (ښــه او بد) تعبیرونو ســره بیان کړو، د بېلگې په توگه که وغواړو څوک یې د پلار په راتلو خبر کړو، نو دا دوه جملې کارولی شو:

الف ــ هغه دی ستا والد صاحب راغی. دا هغه ښه جمله ده چې مخاطب پرې خوشحاله کېږي او ستا دوست جوړېدی شي.

ب ــ هغه دی ســـتا د مور خاوند راغی. دا جمله که څه هم واقعیت وي، خو څکه بده جمله ده، چې مخاطب پرې خپه کېږي.

نو قلم وال باید په خپله لیکنه کې داسې باریک ټکي په پام کې وساتي؛ تر څو په مقابل لوري ښه اغېزه ولري.

که چېرې د دیني لارښود لیکنه د قرآن او سنتو او د امت د نامتو علماو د اقوالو په رڼا کې وي، یوه گټه یې داده، کله چې تعبیر په ریښـتیني او پاخه دلیل ولاړ وي، هېڅ مخالف پرې رد نشــي کولی او بله گټه یې داده، چې هر هغه چاته، چې پوه، له ضد او عناد څخه خالي وي په پراخه سینه د منلو وړ وي.

که چېــــرې کوم طبیب د عامه پوهاوي په موخه لیکنه کوي، نو هغه باید په عامه ژبه او په هغو شته او مســتعمل اصطلاحاتو ولیکي چې عام خلک پرې پوهېږي او د مرض هغه اړخونه تشــــریح کړي، چې په عامو خلکو پورې اړه لري، لکه دا چې ووایي د ملاریا ناروغی ناقل میاشـــــــې دي، نو د ملاریا د میاشې شکل، د مېشـت او ودې ځایونه، له میاشو د ځان ژغورنې طریقې او د ناروغی نښـې نښـانې بیان کړي؛ تر څو خلک وکولی شي د میاشو مېشــت ځایونه له منځه یوسي، د جالی، درملو او نورو وسایلو په اسـتعمال سـره ځان وژغوري او د اخته کېدو په صورت کې په ځان پوه شي او معالج روغتیاپال ته ورشــي، خو که چېرې مخاطبین یې د طب زده کوونکي یا نور روغتیا پالان وي، نو هلته پکار ده، چې د پرازیت څرنگوالی، ژوند، د وینو حجـرو ته ننوتل، هلته یې د ژوند او ودې څرنگوالی بیان شـي؛ تر څو لوسـتونکي له هغه څخه مناسبه گټه واخلي.

د تاریخ لیکوال باید هر ډول تړاو له پامه وغورځوي، ځکه تړاوونه سـړی دې ته اړ باسـي چې له څه واقعیتونو سـترگې پټې کړي، چې دا په حقیقت کې له راتلونکو نســــــلونو سره خیانت او په هغوی باندې د لارې ورکاوی دی، نو لیکوال باید کوښــــــښ وکړي، چې هغه واقعیتونه بیان کړي، کوم چې په ریښتونې بڼه واقع شوي دي او که چېرې له هغه سـره شـته او څرگند شـواهد بیان کړي نو لیکنه به یې لا زیاته پخه او کره وي، په دې ســــره له یوې خوا راتلونکو نســـلونو ته خدمت او لارښوونه ده او له بلې خوا د لیکوال ریښتونولې څــرگندوي.

ددې ډول لیکوالانو لیکنې اغېــزمنــې، گټورې او په زړه پورې وي او دا ډول لیکنې راتلونکو نسلونو ته پاتې کېږي او د مسـلمان نېک اثر او جاریه صدقه بلل کېږي.



# چگونه میتوانم عضویت هلال احمر افغانی را کسب نمایم؟

عبدالرشید رشاد

جمعیت هلال احمر افغانی یک نهاد ملی غیر دولتی و غیر انتفاعی است که شـامل بودیجه دولت نبوده و امکانات خویش را از ملکیت ها، تجار ملی، حجاج محترم و اعانه اعضـاء بدست آورده و وظیفه اش امداد رسانی و پاسخدهی به مصدومین حوادث و مصدومین خطر در سراسر کشور و کاهش آلام بشری می باشد.

چنانچه گفته شد جمعیت هلال احمر افغانی نهاد غیر انتفاعی است و شـامل بودیجه دولت نمیباشد و یکی از راه های که هلال احمر افغانی را برای کمک های بیشتر تقویه میسازد سیستم عضویت است.

سیستم عضـویت در ساختار جمعیت ملي که به وسیله آن هزاران هموطن ما در مرکز و ولایات افتخار عضـویت هلال احمر را دارند، اعضـاي محترم در خدمات رضاکارانه و یاهم با پرداخت حق العضـویت و کمک هاي نقدي و فوق العاده در تحکیم پایه هاي این کانون خیریه سـهم فعال دارند. و با این همکاري و کمک احساسات انسـاني شان را با همنوعان که مقهور حوادث گشته بودند تبارز مي دهند. از سوي دیگر اکثر جمعیت هاي ملي کشور هاي جهان داراي سیستم عضویت هستند که این اعضا پشـتوانه نیرومند خدمات بشردوستانه جمعیت هاي ملي محسوب مي شوند.

بنابر اهمیت این سیسـتم هیات رهبري جمعیت ملي مصـمم است تا این سیستم را حمایت نماید، سرانجام حمایت و پشـتیباني موجب گردیده است تا در تمام نماینده گي ها هزاران هموطن بعنوان عضـو جمعیت ملي جلب و جذب گردند. اعضاي مشـمول برنامه، ماهانه طبق اصول مبلغ (۱۰) افغاني را بعنوان حق العضویت ومبلغ (۲۰) افغاني را بعنوان حق الشمول براي یکمرتبه به خزانه دار گروپ خویش میپردازند که هرگروپ متشکل از ۲۰ - ۳۰ نفر بوده که رئیس وخزانه دار خود را از میان شان طور انتخابي تعیین مینمایند.

ممکن ماه ۱۰ افغانی بالای وضعیت اقتصـادی هیچ فردی اثر منفی نگذارد ولی اگر صد ها هزار نفر ماه ۱۰ افغانی (سال ۱۲۰ افغانی) حق العضویت برای هلال احمر پرداخت کنند خیلی از اطفال بیمار سـوراخ قلب که منتظر نوبت شان هسـتند و یا خانواده های آسیب دیده از حوادث که نیاز شدید به کمک دارند را با این مبلغ میتوانند نجات دهند.

به نقل از فصل سوم اساسنامه جمعیت هلال احمر افغانی:

"همه اتباع افغانسـتان می توانند بدون هیچ نوع تبعیض نژادی، جنسـی، موقف اجتماعی، اقتصادی، لسانی، دینی و عقاید سیاسی، عضـویت جمعیت ملی را به دست آورند. جمعیت ملی می تواند اشـخاص حقیقی و حکمی را به صفت اعضای خویش بپذیرد. اعضای جمعیت هلال احمر افغانی عبارتند از:

اول: اعضای عادی

دوم: اعضای متعهد

سوم: اعضای افتخاری

۱. اعضای عادی جمعیت ملی اشخاصی اند که:

الف: به صورت متداوم و رضاکارانه در فعالیت های جمعیت ملی سهم داشته باشند.

ب: - حق العضویت سالانه خود را پرداخته باشند.

ج: - عضـویت جمعیت ملی را حداقل یک ماه بعد از پرداخت حق العضـویت حاصل نموده باشند و

اسمای شان در کمیته های جوامع محلی ثبت شده باشد.

۲. اعضای متعهد اشخاصی اند که به صورت متداوم با جمعیت ملی مساعدت مالی می نمایند.

۳. اعضـای افتخاری جمعیت ملی اشخاص حقیقتی وحکمتی اند که بنابر انجام خدمات فوق العاده یا کمک های نقدی و جنسـی فوق العاده (بالاتر از سی هزار افغانی) به اساس منظوری رئیس عمومی جمعیت ملی عضـو افتخاری شناخته می شوند".

همین اکنون جمعیت هلال احمر افغانی در نمایندگی هایش در سـرتاسـر کشور سیستم عضویت فعال دارد و ده ها عضو دارد و سالانه جان خیلی ها به همکاری این افراد نجات می یابد.

پس شما هم اگر آرزویی کمک به آسیب دیده گان حوادث و بیماران سـوراخ قلب دارید با کمک به سره میاشت از طریق عضـو شدن و پرداخت حق العضویت تان به این خواست تان می رسید.

سره میاشت یگانه نهادی است که از بین مردم و برای مردم است




## خدمات طبی به آسیب دیده گان حوادث از اولویت های هلال احمر افغانی است!





**تهیه مسکن برای آسیب دیده گان زلزله نمایانگر جوابدهی کامل به حوادث است!**



**پروژه کار در بدل پول توسط هلال احمر افغانی توانسته است که اقتصاد مردمی را تقویت بخشد!**